ادع الی سبیل ربک بالحکمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي احسن الآیه

دعوت

د افغانستان د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة د افکارو خپرونکې

د توحید او جهاد مجله

۴۲ ګڼه

د جنګونو د خاتمې د پاره د اسلامي تفاهم او خپل منځي جوړجاړي نه پرته نوري ټولې نسخې بې اغېزې او بابېزه دي. (سرمقاله)

ترڅو چې په حقیقي معنو کې مسلمانان اسلامي اساسات ونه مني اسلامي حکومت نشي جوړیدی.

(شیخ سمیع الله «نجیبي»)

د افغانستان لانجه د کوټك او ټوپك خولي ته ورغلې ده. او زه نه غواړم د ټوپك په خوله د چاسره خبرې وکړم.

(مولوي خالص)



بسم الله الرحمن الرحيم

بسم الله الرحمن الرحيم

«قل هذه سبيلي ادعو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشركين»
سورة يوسف (١٠٨)

الهی فرمان

قال الله تعالی

«إِنَّ الْمُنَافِقِيْنَ يُخَادِعُوْنَ اللهَ وَ هُوَ خَادِعُهُمْ وَ إِذَا قَامُوا إِلَى الصَّلَاةِ قَامُوا كُسَالَى يُرَاءُوْنَ النَّاسَ وَلاَ يَذْكُرُوْنَ اللهَ إِلاَّ قَلِيْلاً* مُذَبْذَبِيْنَ بَيْنَ ذٰلِكَ لاَ إِلَى هٰؤُلاَءِ وَ لاَ إِلَى هٰؤُلاَءِ . وَ مَنْ يُضْلِلِ اللهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهُ سَبِيْلاً» (النساء-١٤١-١٤٣).

ترجمه: بیشکه چی منافقان چلی کوی (په اظهار او اخفاء دکفر) له الله سره او الله سزا ورکوونکی دی د دوی (د چلی په سبب).

او هر کله چی پاڅیږی دغه (منافقان) لمانځه ته نو پاڅیږی سست کاهلان، ښیيی دوی خلقو ته (ځان خپل چی مونږ هم مسلمانان یو) او نه یادوی دوی الله مگر (ریایی یادول) لږ.

په دی حال کی چی دوی متحیران متردادان دی په منځ د دغه (ایمان او کفر) نه (بیخي) په طرف د دغو (مؤمنانو دی په باطن کی) او نه بیخي په طرف د هغو (کفارو) دی (په ظاهر کی)، او هر څوک چی گمراه (ئی) کړی الله نو له سره به نه مومی ته ده ته لاره (دحق).

د دعوت پیغام

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

قال الله تعالی:« شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيْ أُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْآنُ هُدىً لِّلنَّاسِ وَ بَيِّنٰتٍ مِنَ الْهُدٰى وَالْفُرْقَانِ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَنْ كَانَ مَرِيْضاً اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ» الاية ((البقره-١٨٥)

د روژی مبارکه میاشت پداسی حال کی راځی چی زمونږ مسلمان امت د بی شمیره بدبختیو، مشکلاتو، مصیبتونو او ډول ډول کړاوونو سره مخ دی.

دا چی روژه د نورو دینی او دنیوی گټو ترڅنگ د مسلمان د اخلاقی اړخ اصلاح هم کوی، په انسان کی د تقوی جذبه او الله ترسی پیدا کوی او یو مسلمان خپلو اسلامی او ایمانی وجائبو ته متوجه کوی، د کال په اوږدو کی د انسان ویده ضمیر رابیداره وی او په دغه ډول ورته د یو ناچاره ،فقیر او محتاج حال په عمل کی وربښائی.

نو پدغه اساس زمونږ مسئولیتونه او وجائب د پخوا په نسبت لا نور زیاتیږی.نو که د لویو مصائیبو او بدبختیو مخه نیول مو له وس او توانه نه وی پوره ، اقلاً پخپل چاپیریال کی خو باید د مسلمانانو د روانو حالاتو د ښه کولو لپاره یو مثبت قدم پورته کړو.

(ومن الله التوفیق)

دعوت

د توحید او جهاد مجله

دامتیاز خاوند : دافغانستان جماعة الدعوة الی القرآن والسنة

مؤسس : شهیدشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)

سرپرست: الشیخ سمیع الله «نجیبی»

اتم کال (٤٢) گنه ١٤١٦ هـ ق شعبان المعظم ، رمضان المبارك میاشتي/١٣٧٤ هـ ش د جدي-دلوي میاشتی

د دې گنې مطالب

عنوان — مخ

* په اسلامي طريقه افغاني تفاهم..............(سرمقاله) ٢
* د جماعة الدعوة نصب العين..............٤
* د روژې مبارکه میاشت..............٧
* په منځني اسیا کي د اسلام..............١١
* د دعا د قبلیدو وختونه..............١٤
* د افغانستان لانجه دتمریك..............١٦
* ارامش بعد از طوفان..............١٨
* په اسلام کي بنیادي حقوق..............٢١
* ترڅو چي په حقیقي معنو..............٢٤
* غوره وېناوې..............٢٦
* غفلت..............(شعر)٢٧
* آیا خپل منځي جګړې..............٢٨
* اسلام او د بشر حقوق..............٢٩
* ایدز يوه تباه کوونکي ناروغي ده..............٣١
* د صحابه و ژوند ته يوه کتنه..............٣٣
* مسلمان ملت او د يهوديت دام..............٣٧
* د اسلام ستر فاتح..............٤٠
* ستاسو پوښتني..............٤٣
* د تنظیم طلبه راپور..............٤٥
* تعزيتي پيغامونه.....* (٤٦) * ستاسو لیك..............٤٧

PROPERTY OF ACKU
S524

د لیکونکو هیئت ته کتنه لاندې

په افغانستان کی د گډون بیه

میاشتنی: ٥٠٠ افغانی

کلني: ٦٠٠٠ افغانی

په پاکستان کی د گډون بیه

میاشتنی: ١٠ کلداری - کلنی: ١٠٠ کلداری

نور هیوادونه: میاشتنی: ٢ امریکائی ډالر

کلنی: ١٠ امریکائی ډالر

په افغانستان او نورو بهرنیو هیوادو کی زمونږ نماینده گان

کابل : قاری عبدالستار

کونړ : عبدالکریم «عبید»

پیښور : لعل محمد «افسوس»

اسلام آباد: سعدالله «المحمدی»

لاهور : حماد شاکر

مظفر آباد: بشیر قریشی

سعودی عرب: هدي الرحمن

امریکا : عبدالرحمن احمد

بریطانیا : منور علی

جرمنی : وائی - ایم حمیم

هالینډ : عماد الدین بکری اسماعیل

مکاتباتی پته : «دعوت مجله» - پوست بکس نمبر ٦١٤ پشاور پاکستان

بانکی حساب : افغان اسلامي خیري اداره اکاونټ نمبر ١٠٦٣/٧ نیشنل بینك اف پاکستان-صدر روډ - پشاور.

سرمقاله

په اسلامی طریقه افغانی تفاهم دلانجی بنیادی حل دی

په هیواد کی د مجاهدینو د فتحی او د اسلامی حکومت د جوړیدو څلور کاله پوره کیدونکی دی.که چیری په دی دوران کی زمونږ د کشرانو،وسله والو قوماندانانو، گاوندیانو، کورنیو او بهرنیو دښمنانو کړه وړه د سیاسی تجزئی لاندی ونیول شی نو د تولونه اول انتقاد په جهادی مشرانو او وسله والو قوماندانانو باندی واردیږی چی ولی ئی د جهاد دومره ستراو عظیم اهداف شاته وغورځول او ولی ئی د اسلامی حکومت د استحکام په کار کی د بی اتفاقی زړی لری نکړی شول. په دی دوران کی چی باید د هری ورځی په تیریدو سره د افغان مومن ملت په زخمونو د پټی ایښودلو بندوبست شوی وای د بده مرغه برعکس د سیاسی او جنگی ناتار په لړو کی مو تولـه مادی او معنوی شتمنی د لاسه ورکړه او د جهادی کامیابیو تولی هغه کارنامی په اوبو لاهو شوی چی د الله اکبر په شروع کیدواوتش لاس اسلامی قیام ئی د کفری نړی هغه طاقت په گوندو کړ چاچی ځان ته ناشکن او نه ماتیدونکی وایه او هغه لاس پوځی رژیم ئی هم نسکور کړ چی د کبیر او په شا نه تلونکی انقلاب خطاب ورته کیده خو کله چی په عمل کی د اسلامی حکومت د جوړیدو کونجی گانی زمونږ د مشرانو لاس ته ورغلی خپلی تولی پخوانی جهادی وعدی ئی هیری شوی او د وسلی او پیسو حرص د یوی خوا نه او کورنیو او بهرنیو دښمنانو د بلی خوا نه په خپلو کی سره واچول او د مسلمان وژنی او وروروژنی تراژیدی ئی پیل کړه چی تراوسه پوری ښه په درز کی روانه ده او ان تردی پوری چی د اسلامی حکومت د جوړولو صلاحیتونه هم ورنه دښمنانو تروړلی دی.

یو وخت افغانانو فکر کولو چی افغانی او خپل منځی اختلافات به د کورنیو او بهرنیو مصلحینو په ذریعه ختم کړی شی خو په تیرو څو کلونو کی ثابته شوه چی د مصلحینو کردار هم څه نتیجه ورنکړه.

په بهرنی سطحه اکثره غربی هیوادونه اسلامی حکومت نشی تحمل کولی او گاوندیانو هم چی دا وخت د خپلو خپلو منافعو د پاره په افغان مسله کی د مشاجری او مناظری میدان ته راوتلی دی، په تشو الفاظو کی د افغان مسئلی پرامنه هواری غواړی، افغان مشران چی په جنگونو کی یود بل نه پوره لری شوی دی او د یو د بل سیوری په توپك ولی د مخامخ خبرو جرئت هم د لاسه ورکړی دی.

په دی مینځ کی چی د طالبانو غورځنگ سیاسی حالات څومره بدل کړی دی او د اسلامی حکومت د

جوړولو د پاره په ځومره ولایاتو کی ورختلی دی، تولی هغه وعدی چی پخوا ئی خلکو ته ورکولی برعکس راوزی او تقریباً دا وخت د دولت د مخالفینو او یوی جنگی ډلې په حیث د هم اهنگۍ د شورا خلاتی ډکه کړی ده.

کابل په رندو راکتونو ولی، وچ او لامده تول د مخی سیزی او مذاکرو ته په نظامی مقابلی ترجیح ورکوی.

په نړیواله سطحه محمود مستیری چی د سولی د ماموریت د پاره گمارل شوی وو لوی سرمنشی ته د خپلی ناکامۍ رپورټ لاد مخه پیش کړی دی. د اسلامی سازمان کنفرانس د لاسه هم د تشو خبرو او نصایحونه پرته نور څه جوړ نه شول.

په داسی حال کی چی دولت اوس اوس د داخلی جنگونو د ختمولو د پاره د ملی پخلاینی یوه اعلامیه هم صادره کړی او په هغی کی د افغانی تفاهم د لاری د قدرت د انتقال او د ملت په خوښه د نوی قیادت اپیل شوی دی خو د دولت مخالفینو دی ته د همکارۍ او لبیك په عوض د کابل اقتدار د دوام نوم کیښوداو مخکی د دینه چی د اعلامیی په مفرداتو او محتویاتو غور وشی، ځینو مخالفینو په پټو سترگو ورته د رد ځواب ووایه او د «نه منم» په تکی ئی د جنگونو د دوام اوامر صادر کړل.

ترکومه ځایه چی د تیرو کلونو جنگونو څخه څرگنده شوه چی په هیواد کی د جنگونو دختمی د پاره د اسلامي تفاهم او خپل منځی جوړجاړی نه پرته نوری تولی نسخی بی اغیزی او بابیزه دی . دا چی دولت وائی د قدرت د انتقال د پاره حاضر دی خو په دی شرط چی تول تنظیمونه او افغانی سالم ځواکونه په گډه د یو متفق علیه میکانیزم په جوړولو راضی شی ښه خبره ده . هرکله چی دولت تردی حده په صداقت سره د جنگونو د ختمولو او د سولی د تامین د پاره تیریدنی ته چمتو دی بیا نو په پټو سترگو د نه منم خبره نه یوازی دا چی معقوله نه ښکاری بلکی د ملت د تباهۍ او د جهادی کارنامو د لاهو کولو نه په غیر بل پیغام هم نه لری.

په موجوده وخت کی دولت، د هم اهنگۍ شورا او طالبان دری ځواکونه دی چی تول ملت ئی په یرغمل کی نیولی دی، سره د دی چی تول په دی باندی پوهیدلی دی چی یو تنظیم او یا ځو ډلی په افغانستان کی حکومت نشی کولی تر څو چی د ملت ملی وحدت تامین نشی او د تولو ډلو تنظیمی او حقوقی وندی ورنکړی شی دا وړۍ نه شړۍ کیږی.

ترکومه ځایه چی په جماعت الدعوت پوری اړه لری د قران او سنتو د حاکمیت په رڼا کی افغانی تفاهم او د تولو بهرنیو مداخلو مخنیوی او جهادی هدفونوته احترام او تحقق ورکول د مسلی بنیادی حل بولی.

راځئ چی مم زرما تولہ زما قیصه ختمه کړو! د مظلوم او مسلمان ملت په اوسنی بحرانی صورت حال رحم وکړو! په خپلو کی د افغانی جوړجاړی او مخامخ خبرو جرئت په ځان کی پیدا کړو او د دینه زیات نړیوالو او په تیره بیا اسلامی ملکونو ته د بی کفایتی ثبوت ورنکړو.!

جماعت الدعوة حاضر دی د خپل منشور او نصب العین سره سم د پخوا په شان د سولی په تینگښت کی تول اثر رسوخ پکار واچوی خو څرگنده ده چی یو لاس نه تك نه خیژی او په اوسنی بحران کی د تولو ذیدخلو اړخونو تیریدنی او قربانۍ ته اشد ضرورت دی.

دجماعت الدعوت نصب العين د اسلامي حکومت جوړول دي

مولوی سمیع الله «نجیبي»

بهرنیان او ګاونډیان نشي کولی افغان کشاله حل کړي،کفري او استکباري طاقتونه د اسلامي نظام تحمل نلري.

د افغانستان سیاسي او پوهې څرنګوالي او دا چې ولې په تیرو څلورو کالو کې په افغانستان کې خونړي جنګونه روان دي او هیڅ کورني او بهرنی منځګړتوب ونشو کولی افغان لانجه حل کړي او په هیواد کې دجهاد د اهدافو مطابق یو اسلامي حکومت جوړ شي دا او د داسې نورو اړوندو موضوعاتو په باره کې دا ځلې د دعوت مجلې اختصاصي خبریال د افغانستان دجماعت الدعوت الی القرآن والسنة امیر شیخ سمیع الله «نجیبي» سره مرکه کړې ده چې محترمو لوستونکو ته وړاندې کیږي.

جواب: د جماعت الدعوت تنظیم هماغسې چې د نوم او محتوا نه ئې څرګندیږي د خپل اسلامي نصب العین او منشور له مخې قرآن اوسنت ته دمسلمانانو دبلنې په کار لګیا دی او د تنظیم مرکزي عنصر ئې په همدې ټکي متمرکز دی. که څه هم تنظیم د سیاسي فعالیت له نظره د سیاسي نظامي او په تشکیلاتي برخه کې دوندې اخستلو سره مینه نلرې خو د سیاسي بحران او د خونړیو بې مفهومه جنګونو په دوام کې بې توپیره نه دی پاتې شوی او په هیواد کې د سولې او ثبات د ټینګښت د پاره خپل سوله ایز کردار ادا کړی دی او بې ددینه چې دځینو ګوندونو په څیر دعهدو په تر لاسه کولو سره خپل سرونه مات کړي او وسلې ته لاس تیر کړي بز خلاف د قرآن او سنتو د حاکمیت دپاره ئې خپل آواز پورته کړی دی او

پوښتنه: د جماعت الدعوت الی القرآن والسنت تنظیم دا وخت په کومو دعوتي چارو او سوله ایز فعالیت بوخت دي او د کار نتایج یې په اوسني وخت کې څنګه ارزیابي کوئ؟

وخت په وخت ئې د دله ایز ارتباط د وسایلو او تبلیغاتي بورډ د غرو په ذریعه خپل عکس العمل ښودلی دی جنګونه ئې محکوم کړي دي او په هیواد کې ئې د اسلامي حکومت دجوړولو په لاره کې خپل ټول اثر رسوخ په کار

اچولی دی او دا مبارزه به تر هغی پوری دوام لری تر څو د جماعت الدعوة د موقف سره سم حکومت نه وی جوړ شوی.

دا چی زمونږ ددی جدوجهد نتائج څنګه دی دا وخت د افغانستان کشالي دومره اړخونه او ابعاد پیدا کړی دی چی د سولی یوی نسخی هم په دی بحران مثبت اثر نه دي کړی خو بیا هم د الله تعالی نه غواړو چی زمونږ مشران او کشران چی په خپلو کی ئی یو بل ته د ټوپك خولی نیولی دی ددوي په زړونو کی یو عاطفی احساس را پیدا کړی چی د څوارلس کلن وسله وال جهاد د هدفونو مطابق د جنګونو په ختمولو او مضبوط اسلامي حکومت په جوړولو راضي او متفق شی.

پوښتنه: ستاسو په نظر اوسنی سیاسی او پوځی حالت کومی خواته روان دی او د افغانستان د قضیي په وړاندی د نړیوال سازمان او ګاونډیو هیوادونو په سیاسی دریځ څه تبصره کوئ؟

جواب: دبـدو مرغه په افغانستان کی اوسنی سیاسی پوځی حالت د بحران او ویجاړتیا خواته روان دی دهری ورځی په تیریدو سره په جنګ کی د اخته ډلو خصومتونه شدید کیږی او د جهادی ډلو تر مینځ د تاو تریخوالی له امله د سولی او منځګړتوب خبره بابیزه کیږی زمونږ هر مشر په دی خبره ښکاره اعتراف کوی چی زمونږ په صفونو کی دښمنان راننوتی دی او مونږ په خپلو کی جنګوی خو چی ورته وویل شی چی راځئ د داخلی او خارجی دښمنانو په مقابل کی یو موټی او سوك شو بیا نو ددي تلك نه د خلاصون چل نه ورزی او یا نه غواړی د سولی په فضا کی خپل مادی او معنوی امتیازات د لاسه ورکړی ځکه نو اکثر یاران تش په الفاظو کی په هیواد کی داسلامي حکومت د جوړولو په شعار شخوند وهي او په عمل کی ئی اسلامي ضوابط شاته غورځولی دی.

پاتی شوه دنړیوال سازمان او ګاونډیو هیوادونو دسیاسی دریځ خبره په تیرو څلورو کالو کی څرګنده شوه چی دمجاهدینو دکامیابۍ نه وروسته چې د نړیوال کمونیزم او کفری استکبار په ماتولو سره ئی ټوله دنیا ددی خطر نه خلاصه کړه،دا فغانستان دمجاهدینو سره د مرستی دوسیه هم وتړل شوه او د غرب له نظره د کمونیزم د خطر نه د اسلام ایزم خطر خطرناك وبلل شو ځکه نو دلته د سولې او اسلامي نظام په عوض دجنګ جګړو دوام غوره و بلل شو تر څو یو بل سره ووژنی اوبې‌پای کي مجاهدین دومره بدنام کړی شي چی د ملی نظام د جوړولوقابلیت اوصلاحیت هم ورنه سلب کړی شی لکه چی همداسی وشول او لا روان دی.

د ملګرو ملتو د سولی ځانګړی استازی بناغلی محمود میستری دوه کاله په نمایشی توګه د افغانانو تر منځ د جوړ جاړی په نوم منډی را منډی وکړی،د سولی د تامین ډیر کاذب زیري ئی ورکړل خو د هر سوله ایز پیغام د صادریدونه وروسته جنګونه لاتشدید شول تر څو نوموړی هم خپل دغه ماموریت ناکام و بنود او په دی باره کي ئی عمومی منشی بطروس غالي ته خپل رپورټ وړاندی کړ.

همدا رنګه ګاونډیو ملکونو چی په ظاهره د افغانستان د سولی او د ثبات خبری کوی د خپلو خپلو منافعو په سر تر اوسه لا دی نتیجی ته نه دی رسیدلی چی په افغانستان کي د افغانانو په خوښه یو حکومت جوړ کړی.

په دی برخه کی زما تبصره داده چی تر څو افغانان په خپلو کی یوي غوڅی موافقي ته ونه رسیږی دبهر نه د سولی په صادریدو سره ممکنه نه ده موجوده بحران حل شي.

زه بیا هم وایم چي دافغان لانجي دغوڅولو د پاره ایکي

یوه لاره د قرآن او سنتو په رڼا کي فیصله ده او یوازی همدغه نسخه کولی شی اسلامي حکومت جوړ کړی.

پوښتنه: دمجاهدینو دکامیابۍ نه وروسته ولی یو مرکزی مضبوط اسلامي حکومت جوړ نشو او ولی د څلورو کالو په موده کی مصلحینو ونشو کولی د روان خونړی جنګ مخه ونیسی؟

جواب: دمجاهدینو د کامیابۍ سره جوخت چی په همغه اوله ورځ په کابل کی د کوم جنګ اوږ بل شو بیا هم لکه چی مخکی می هم وویل د دښمنانو پخوانی کمین وو چی د مجاهدینو د جنګولو د پاره نیول شوی وو په دغه وخت کی د کمونستی رژیم بقایاوُ هم خپل نقش ښه ادا کړ. دوی نه یوازی دمجاهدینو خپل منځی جنګونو او اختلافونو ته ببوزی وواهه بلکه په شکل د اشکالو په جهادی صفونو کی ورننوتل او د ځیرو په بدلولو سره ئی جهادی پوزیشن اختیار کړ.

د بلی خوا نه مخکی ددینه چی د جمهوری ریاست د پاره یو جهادی مشر غوره کړی شی په پیښور کی د مشر په سر چی‌دکومو اختلافاتو زړی کرل شوی وو د حکومت جوړولو په ځای په کابل کی یو بل ته توپونه چو کړل او دادی څلور کاله پوره کیدونکی دی خو جنګونه لا هماغسي په خونړی درز کی جاري دي.

دا چی ولی مصلحینو په څلورو کالو کی ونشوکولی مجاهدین په خپلو کی په یو شریك حکومت کی راټاله کړی،د ځینو تنظیمونو تر مینځ پخوانۍ تریګنۍ او په ځینو مواقعو کی قدرت ته د رسیدو او په قدرت باندی د پاتی کیدو حرص هم تر یوی اندازی پوری په بحران خپل اثر غورځولی دی او د جهادی مشرانو د عدم اعتماد او نور سیاسی ملاحظات ددي سبب شول چی د مصلحینو غږ ته چا غوږ نه دی ایښی او د مسئلی حل د توپ او راکټ په خوله د نظامي مقابل له لاری دوام موندلی دی. او دا چی ولی په دغه موده کی اسلامي حکومت جوړ نه شو بیا هم په اسلامي او جهادی اهدافو د عدم پابندۍ انګیزه پکی مضمره او څرګنده ده.

پوښتنه: د دولت مخالفین وائی چی‌داستاذ ربانی قانونی وخت لا پخوا پوره شوی دی،څه فکر کوئ چی جمهور رئیس استاد ربانی د ملی پخلاینی د وروستي اعلان تر مخه په صداقت سره چمتو شوی دی چی قدرت یو مکانیزم ته انتقال کړی؟

جواب: حقیقت خو دادی چی د مجاهدینو د کامیابۍ نه وروسته ځینو قدرت طلبو په اسلامي ضوابطو سترګی پټی کړی او د جهاد اهداف ئی د پښو لاندی کړی دي.

دافغانستان او جهاد په تاریخ کی یو خواشینونکی باب دي استاد رباني ددوه کالو راهیسي د قدرت د انتقال د پاره چمتو والی ښودلی دی خو شرط ئی ورسره دا ایښی دی چی د قدرت د انتقال د پاره باید یو داسی میکانیزم را مینځ ته شی چی جنګونه بند او سراسری سوله تامین شی خو مخالفین د بده مرغه تر اوسه پوری په دی نه دی موفق شوی چی په افغاني توافق سره د ملت یو نماینده میکانیزم او بدیل جوړ کړی.

د استاذ ربانی د ملی پخلاینې اوسنی اعلان په صداقت مبنی دی او د قدرت د انتقال د پاره کاملاً چمتو شوی دی خو په سپین میدان قدرت نشی خوشی کولی.اصولی خبره داده چی کوم شخص او یا کومه ډله چی دغه قدرت اخلی د جنګونو د خاتمی او د داۀ مني سولی تامین او اسلامي حکومت د جوړولو مفردات وربوری تړلی دي.

اوس په مشرانو پوري اړه لری هر څومره زر چی کیدای‌شي د قدرت د سالم انتقال د پاره سالم میکانیزم را منځ ته کړی،په همغه اندازه به د روان بحران او مصیبتونو او مرګ ژوبلی مخه ونیول شی. امید دی‌چی‌په دی برخه کی چټك ګامونه واخستل شي.

د روژې مبارکه میاشت او د هغې فضائل

لیکنه: عبدالوکیل (خوشحال)

روژې ته په عربي ژبه کې «الصوم» ویل کیږي او عربي معنی ئې (إمساك) ده چې په پښتو کې «بندیدلو» ته ویل کیږي.

او په شرعي اصطلاح کې د سباون د بنکاره کیدو نه د لمر تر پریوتو (غروب) پورې د هر ډول خوراك، څښاك او جنسي تماس نه ځان بندیدلو ته ویل کیږي.

د روژې د فرضیت په باب الله تعالی فرمائي: «یا أیهاالذین أمنوا کتب علیکم الصیام کما کتب علی الذین من قبلکم لعلکم تتقون» (البقرة).

روژه د اسلام د پنځه ارکانو څخه یو رکن دی او منکر د هغې څخه کافر او مرتد د اسلام دی.

همدا رنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي:

عن أبي هریرة رضي الله عنه قال: «کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یبشر أصحابه، یقول: قد جاءکم شهر رمضان شهر مبارك. کتب الله علیکم صیامه. فیه تفتح أبواب الجنة، و تغلق فیه الشیاطین. فیه لیلة خیر من ألف شهر. من حرم خیرها فقد حرم»

(رواه احمد و النسائی).

ترجمه: د أبو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی: چې کله د رمضان المبارك میاشت داخله شوه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به خپلو صحابه ؤ (رضي الله عنهم) ته زیري ورکړ چې تاسي ته د روژې مبارکه میاشت راغلله او دا یوه مبارکه میاشت ده. الله تعالی ددې میاشتې روژه نیول پر تاسی فرض ګرځولی ده، پدغه میاشت کې د جنت دروازې خلاصیږي او شیطانان تړل کیږي، پدې میاشت کې یوه شپه د لیلة القدر ده چې دا شپه د زر شپو څخه بهتره ده او هر هغه څوك چې ددې مبارکې میاشتې د خیر او ثواب څخه محروم پاتې شي نو هغه به په آخرت کې محروم وي.

همدا رنګه د أبو هریرة رضي الله عنه څخه په یو بل روایت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي: «أعطیتت أمتي في شهر رمضان خمس خصال، لم تعطها أمة قبلها خلوف فم صائم أطیب عند الله من ریح المسك، و تستغفر لهم الملائکة حتی یفطروا و یزین الله عزوجل کل یوم جنته، ثم یقول: یوشك عبادي الصالحون أن یلقوا عنهم المؤنة والأذی و تصفد فیه مردة الجن و یغفر لهم في آخر لیلة. قیل: یا رسول الله، أهي لیلة القدر؟ قال: لا ولکن العامل إنما یوفی أجره اذا قضی عمله» (رواه احمد)

ترجمه: په میاشت د رمضان کې زما امت ته پنځه صفتونه ورکړل شوي دي. چې دغه صفتونه پخوانیو امتونو ته نه دي ورکړل شوي. د روژه دار د خولې بوی چې د روژې په وجه پیدا کیږي دالله تعالی په نزد دمشکو د بوی څخه بهتر دی دوهم دا چې ملائکې ورته طلب د مغفرت کوي تر څو چې روژه ماتې وکړي، الله تعالی ددوی جنتونه هر ورځ خایسته کوي، نژدې ده چې زما د صالحو بندګانو څخه غم او تکلیفونه لیرې شي، پدې میاشت کې

سرکش شیطانانان (پیریان) ترل کیږي، په آخره شپه به دوی ته مغفرت کیږي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشوه ایا هغه د لیلة القدر شپه ده؟ هغه وفرمایل: نه ولکن یو عمل کوونکی ته د هغه پوره اجر هغه وخت ورکول کیږي چې هغه کار سرته ورسوي.

د سلمان رضي الله عنه څخه روایت دی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د شعبان د میاشتی په آخره ورځ مونږ ته پخپل خطاب کی و فرمایل: ای خلکو! تاسی ته یوه ډیره لویه او مبارکه میاشت راورسیده، دا یوه داسی میاشت ده چې پدی کی یوه شپه د لیلة القدر ده چې هغه د زرو شپو څخه غوره ده، الله تعالی ددی میاشتی روژه نیول پر تاسی فرض کړي او د شپې قیام ئی نفل گرځولی دی. او هر هغه څوك چې پدغه میاشت کی یو د خیر نفل عمل سر ته ورسوی د نورو وختونو د فرض هومره ثواب به ئی الله تعالی په برخه کړی.

دغه میاشت د صبر میاشت ده او دصبر اجر او ثواب جنت دی. دا د خیر ښیگڼی میاشت ده او په دی میاشت کی رزق او برکتونه زیاتیږي. هر هغه څوك چې یو مسلمان ته روژه ماتی ورکړی الله تعالی به د هغه گناهونه معاف کړی او د جهنم د اور څخه به ئی بچ کړی او الله تعالی به ده ته د هغه مسلمان روژه دار هومره اجر ورکړی او د هغه په اجر او ثواب کی به هم کوم کمی را نشي.د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وپوښتل شو مونږ ټول دا توان نلرو چې روژه دار ته روژه ماتی ورکړو؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: الله تعالی دغه ثواب او اجر هر هغه چاته ور په برخه کوی چې هغه یو روژه دار ته یو گوټ شودی یا یوه دانه کجوره او یا یو گوټ اوبه ورکړی.

همدارنگه هر هغه څوك چې روژه دار ته اوبه ورکړی او تنده ور ماته کړی الله تعالی به ئی د حوض کوثر په اوبو کی نصیب وکړی، چې د همیشه لپاره به بیا نه تږی کیږي.

دا یو داسی میاشت ده چې اوله برخه ئی رحمت، وسط ئی مغفرت او وروستی برخه ئی د جهنم له اور څخه خلاصون او نجات دی. نو مونږ او تاسی ته پکار ده چې په دغه میاشت کی څلور خصلتونه خپل کړو.دوه هغه خصلتونه دی چې په هغی به تاسی خپل رب راضي کړئ او دوه نور هغه خصلتونه دی چې د هغی څخه ستاسو هیڅ خلاصی نشته او هغه دوه خصلتونه چې په هغی سره به خپل خالق راضي کوئ، چې هغه د شهادة کلمه ویل دی «أشهد أن لا إله إلا الله و أشهدُ أنّ محمداً رسول الله» او استغفار ویل دی. هغه دوه نور خصلتونه چې د هغی څخه بالکل خلاصون نشته، د الله تعالی څخه د جنت سوال کول او د دوزخ نه پناه غوښتل دي» (رواه إبن خزيمه و البيهقي وغيرهما)

د روژی آداب:

۱- د حرامو ځیزونو د کتلو څخه د خپلو سترگو ساتل.

۲- د غیبت، فحش بحث او درواغو څخه خپله ژبه او غوږونو ساتل.

۳- د نورو ټولو جوارحو منع او ساتل د گناهونو څخه.

٤-دزیات خوراك، زیات خوب او زیاتو ویلو نه ځان ساتل.

نو د الله تعالی لوی احسان او رحمت دی چې په مسلمان أمت باندی ئی روژه فرض کړی، ځکه چې د روژی په سبب گناهونه رژیږي، درجی لوړیږي او نیکی زیاتیږي.

همدا رنگه روژي کی نور زیات فواید هم شته چې د هغی زیاتی فایدي فرد او ټولنی ته رسیږي، نو پس روژه چې د اسلام د ارکانو له جملی څخه یو رکن دی، نو دا یو ډیر اوچت عبادت هم دی چې پدی سره مسلمان د الله تعالی د أمر عملی ښه په ځان کی راولی. صادق روژه دار پرهیزگار په خپلی قوی ارادی او عزم سره د الله تعالی د اوامرو په امتثال سره او د نواهیو په اجتناب سره د صبر ملکه زرغونه کوی.

نو پدې وجه مسلمانو روژه دارو ورونو ته دا پکار ده چې د سیګرټو او نورو مسکراتو څښلو، خوړلو څخه ډډه وکړي، ځکه دغه څیزونه د مسلمان دین، مال، صحت، دنیا او آخرت ته ضرر رسوي نو د روژې په ذریعه دې د الله تعالی د رضا لپاره ځان وژغوري ځکه هغه څوك چې د الله تعالی د رضا لپاره د کوم نیك کار اقدام وکړي، الله تعالی هغه ته بهتر عوض ورکوي، دا چې یو مسلمان د حلالو څخه روژه ونیسي او بیائې په حرامو افطار کړي نو فایده ئې څه شوه.

روژه د بدن زکات او پاکي ده انسان د ګناهونو څخه پاکوي او د انسان څخه د بخل او کبر اثار لیرې کوي. او د انسان جسم د فضلاتو او روغنیاتو د آفاتو څخه پاکوي. په حدیث شریف کې راځي: «لکل شيء زکاة و زکاة الجسد الصوم» (رواه ابن ماجه).

ترجمه: د هر شي لپاره یو زکات شته دی چې د جسم زکاة روژه نیول دي.

د روژې د اجتماعي فوایدو څخه دا ده چې د غریب او غني خاص او عام تر منځه کوم توپیر وجود نلري غنیان د مسکینانو سره په تنده او لوږه کې یو شانته شریك وي چې د هغوی لوږه په نورو اوقاتو کې محسوسه کړي او د مسکینانو حقونه چې الله تعالی ددوی په مالونو کې تعین کړي اداء کړي.

نو پکار ده په روژې سره خبرداري ورکول کیږي غنیانو ته په حال د فقیرانو او هغه چاته چې په نس موړ او په جامه پټ دی په حال د هغه وروړ چې د هغه تن لوڅ او نس ئې تش دی نو پدې سره تولو خلکو ته د زیات خیر زیری دی چې مسکینانو ته صدقات او خیرات ورکړي.

په روژه کې د اسلامي امت د تنظیم، معیشت او د مسلمانانو د یووالی او ددوی اتفاق په حق او هدایت سره ثابتیږي، ځکه چې ټول مسلمانان چې یو اقلیم کې اوسیږي په یو وخت د خوراك څښاك څخه پرهیز کیږي او په یو وخت افطار کوي.

په روژې سره د مسلمان صدق او امانتداري په عبادت کې ثابتیږي ځکه چې دا ایو داسې عبادت دی چې یواځې د الله تعالی نه ئې بل هیڅ مراقب نه وي، فلهذا الله تعالی د بندګانو نیکیو ته د یوې نیکۍ بدله لس نیکۍ او د هغې په مثل د اوه سوه او تر هغه زیات اجر ورکوي. سوا د روژې څخه چې الله تعالی د هغې ثواب مختص کړی دی او د روژې د ثواب مقدار هیڅوك علم نلري مګر یوازې الله جل جلاله. رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو حدیث قدسي کې ارشاد فرمائي: «کل عمل ابن آدم له الحسنة بعشر امثالها إلا الصیام فإنه لي و أنا اجزی به» (متفق علیه).

ترجمه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: چې الله تعالی فرمایلي: د بني ادم د هر نیك عمل ثواب او اجر یو په لس چنده ورکول کیږي سوا د روژې نه ځکه چې روژه زما لپاره ده اوزه به ئې اجر او ثواب ورکوم.

ددې نه علاوه د روژې زیاتې صحي ګټې هم شته دی، ځکه معده د امراضو کور دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «صوموا تصحّوا» تاسې روژې ونیسئ چې د صحت خاوندان شئ. زیاتو ډاکترانو پدې نظر ورکړی او اعتراف ئې کړی چې روژه د زیاتو مزمنو امراضو څخه انسان ته صحتمندي ورکوي او د معدې زیات امراض د روژې په نیولو سره له منځه ځي او په زیاته پیمانه مضر فضلات ختموي او ویلې کوي.

روژه انسان ته د الله تعالی د نعمتونو صحیح ارزښت وربښایي ځکه د یو څیز قدر هغه وخت انسان ته محسوسیږي چې د هغې نشت والی محسوس کړي.

په روژه کې پیشمنې کول او تأخیر ئې مستحب فعل دی او په افطار کې تعجیل کول پکار دی. بهتره داده چې روژه په کجوره افطار شي او که کجوره نه وي نو بل کوم خوږ څیز سره افطار شي او یا اوبو سره افطار سنت دي او علاوه ددینه په نورو هرو حلالو خوړو باندې روژه ماتې جایز دی او که هیڅ د خوراك څیز ور سره موجود نه ؤ په زړه کې دې د افطار نیت وکړي.

په روژه کې سخاوت کول، صدقات ورکول، نیك کارونه کول، په پیغمبر صلی الله علیه وسلم پسې اقتدا کول دي.

له عائشي رضي الله عنها څخه روايت دی کله به چي د روژې لس وروستی ورځي پيل شوی نو پيغمبر صلی الله عليه وسلم به ځان د عبادت لپاره فارغ کړ او ټوله شپه به ئی عبادت کولو او خپل اهل به ئی هم ويښولو.

عن ابي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «من صام رمضان إيماناً و إحتساباً غفر له ما تقدم من ذنبه» (رواه احمد).

هر هغه څوك چي د رمضان د مياشتی روژی په ايمانداری‌او د الله تعالی څخه د ثواب او اجر د طلب په نيت ونيسی نو الله تعالی به د هغه گناهونه معاف کړی.

د روژی څخه مقصد دا ندی چی مسلمان د خوراك څښاك څخه ځان منع کړی بلکه د الله تعالی مراقبت په خپلو ټولو اقوالو او افعالو کی په نظر کی وساتی او هر هغه څوك چی د گناهونو مرتکب کيږی نو دده روژه هغه روژه نده کومه چی الله جل جلاله په مؤمنانو فرض کړی.

پدغه باب کی رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايی: «من لم يدع قول الزور و العمل به فليس لله حاجة أن يدع طعاه و شرابه» (بخاری).

ترجمه: هر هغه څوك چی دروغ ويل او په هغه عمل کول نه پريږدی نو الله تعالی ته دده د خوراك او څښاك څخه د پريښودو هيڅ کوم حاجت نشته.

د روژی لويه غايه تقوی او پرهيزگاری ده نو ځکه د روژه دار هر سؤال د افطار په وخت کی مستجاب دی.

دفطرصدقه

دفطر کلمه په اصل کی له فطرت څخه اخستل شوي ده او د خلقت (پيدايشت) په معنی ده. د فطر صدقه يا سرسًا په دانسان د نفس او عمل تزکيه کوی، د فطر دصدقي يو اجتماعي اړخ دادی چی مسکين او غريب په ثروتمن او شتمن باندی حق لری، ددغه مسکين او غريب د اختر ضرورت رفع کولو ته د فطر صدقه ويل کيږی.

کله چی د هجرت په دوهم کال روژه په مسلمانانو فرض شوه، د فطر د صدقي د وجوب حکم هم په همدی کال وشو. عبدالله بن عمر رضي الله عنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د يو حديث روايت کوی وائی: زکات الفطر په هر مسلمان باندی که هغه اصيل وی که غلام، که نر وی او که ښځه، که وړوکی وی که لوی، که غني وی او که فقير او که د ښار وی يا باندي فرض او واجب ده. (نيل الأوطار-٤-١٧٩)

ابن عباس رضي الله عنه د يو حديث روايت کی وائی چی: رسول الله صلی الله عليه وسلم د فطر صدقه (سرسايه) فرضي کړيده چی دا د روژه دار لپاره د بي فايدي خبرو، باطلو اعمالو او قبيحو اقوالو څخه پاکوالی او د مسکينانو د طعام يو سبب دی. (نهاية المحتاج ٢-١٠٨) په دی حديث شريف کی دوه حکمتونه نغښتی دی يو دا چي روژه دار روژه وی او په روژه کی تری کومی خطاگانی وشی ددغو خطاگانو تزکيه پری کيږی او بله دا چی يوه اسلامي‌ټولنه پخپل منځ کی يو له بل سره نژدی کوی.او يو له بل سره د خوشحالی‌او محبت وجه جوړيږی.

د فطر صدق په چا واجبه ده؟

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د احاديثو څخه دا څرگنديږی چی زکات الفطر يا د فطر صدقه په هر مسلمان باندی يوه عامه فريضه ده. د امت ځينی علماء پدی هم قايل دی چی د فطر صدقه په زوجه، صغير او جنين باندی هم واجبه ده او ددی د پاره د نبي کريم صلی الله عليه وسلم ددی قول: «اغنوهم في هذا اليوم» (غنيان کړی په ورځ د کوچنی اخطر کی). د عموميت سبب گنی. او د ابن عمر رضي الله عنه څخه دا روايت شوی حديث «على كل حرٍ و عبدٍ» د نصاب شرط له منځه وړی . همدا رنگه غني او فقير دواړه په حديث کی ذکر شوی دی نو د جمهوروعلماؤ دا رائی ده چي د فطر صدقي لپاره شرط او نصاب يوازي اسلام دی. او علماؤ د غني او فقير په باب يوازي د «قوت اليوم» ټکي نصاب گرځولي دی يعني هغه سړی به سرسايه ورکوی چی هغه لږ تر لږه د يوی ورځی په اندازه خرځ خوراك ولری.

په منځنۍ اسیاء کې د اسلام بیا راژوندی کېدل

عبدالله ژباړن

څرنګه چې د منځنۍ اسیا په جمهوریتونو کې تقریباً (۷۰) میلونه مسلمانان اټکل شوي دي، د پخوانی شوروی کمیونستانو د خپل ظلم او استبداد په سلسله غوښتل چې ددې مسلمانانو پیژندګلوي ختمه کړي، د پخوانی شوروی کیمونستانو (۷۰) کاله خپل دې ناجائزوته دوام ورکړ خو کله چې د پخوانی شوروی مشر ګورباچوف په کال ۱۹۸۵ کې اقتدار ته ورسید نو هغه یوه اصلاحي پالیسي (تګ لیاري) خپله ځان ته غور کړ چې د ګورباچوف دا تګ لیاري د لودیز په مرسته د اقتصاد پیاوړتیا غوره و ګڼله او په رښتیا چې د شوروی اقتصاد پیاوړتیا د لویدیزو هیوادونو په مرسته وه. ولی ددې تګ لیاری په نتیجه کې په دینی بندیزونو هم فشار لږ څه کم شو او دینی تحریکونو د خپلې زیاتی آزادۍ غوښتلو مطالبې او غوښتنې پیل کړې خو د ګورباچوف ددې تګ لیاری پخلاف په کال (۱۹۹۱) کې کمیونستانو د وسلوال بغاوت په سلسله غوښتل چې کودتاه وکړي او د ګورباچوف حکومت ړنګ کړي خو دغه وسلواله کودتاه ناکامه شوه او نور تاریخي بدلونونه راښکاره شول او په نتیجه کې د شوروی کمیونستانو د اقتدار کمبله ورغونډه شوه او د شوروی اتحاد ځای CIS اشغال کړ او ګرباچوف‌ورسره هم سم دم رخصت شو. څرنګ چې په دې وخت کې د (۶) جمهوریتونو یعنی اذربایجان، قازاقستان، ازبکستان، ترکمنستان، کرغزستان او تاجکستان په CIS ملګرو ملتو کې نمایندګی لري او نور پاتی پنځه جمهوریتونو د جغرافیایی ویش له کبله په منځنۍ اسیا کې شمیرل شوي دي او ددې شپږو آیالتونو پرته د روس په (۱۵۰) ملیونه آبادۍ کې نور هم (۲۰) ملیونه مسلمانان اټکل شوي دي چې په روس کې استوګنه لري. دا یاد ساتل پکار دي چې روس یا رشین فیدریشن CIS کې د ټولو څخه لوی رکن بلل کیږي.

په روس کې د مسلمانانو تعداد زیات په قفقاز، تاتارستان، باشکورتاستان په علاقو کې دی. په منځنۍ اسیا او نورو سیمو کې د اسلامي نهضتونو او تحریکونو حال په جلا جلا ډولونو دی چې د هرې سیمې د حکومتونو د تګ لیارې او دلچسپۍ سره اړه لري خو مجموعي صورت حال داسې دی چې منځنۍ اسیا د CIS په نورو سیمو کې د اسلامي تحریك او ثقافت،ژوند او اسلامي تعلیماتو ډګر پراخه او زیات پر مختګ یې کړی دی او په ټولنه یې ورځ په ورځ ښه اغیزه کړیده او دغه اسلامي نهضت ورځ په ورځ مخ پر وړاندې روان دي. د جوماتونو،دیني مدرسو او نورو اسلامي ادارو تعداد د نورو په تناسب زیاتیږي. په ازبکستان کې د څلور سوه جوماتونو څخه اوس د هغې تعداد دوه زرو ته رسیدلی دی چې ددې په جوړولو کې او داسې د نورو اسلامي

ادارو په جوړښت کې ځني اسلامي تنظیمونو او اسلامي هیوادونو خپله ونډه اخستلې چه په دې کې د سعودي عرب، ایران، ترکیې او پاکستان نومونه ښکاره دي او داسي نورو اسلامي هیوادونو د منځنۍ اسیا زده‌کوونکي (متعلمین) د زده کړې پخاطر خپلو هیوادونو ته را بللي دي چې ورته امدادي پیسې هم ورکوي. اوس په ترکیه کې د منځنۍ اسیا تقریباً لس زره محصلین په زده کړه بوخت دي.

همدارنګه په پاکستان، مالیشیا، د مصر په جامعه ازهر کې او د سعودي عرب په پوهنتونونو کې ورته داخله روانه ده او ورسره مالي مرسته هم کوي او د نړۍ اسلامي تنظیمونه ورسره هم د زده‌کړې پخاطر مالي مرستې کوي. داسي ورته لیبیا او مراکش هم ځنې محصلینو ته پخپلو هیوادونو کې د تحصیل موقع ورکړې ده.

WAMY، رابطه عالم اسلامي، انټرنیشنل اسلامك ریلیف ارګنائزیشن، SAAR FOUNDATION، اسلامي ترقیاتي بانك او داسې نورې اداري په تعلیم او نورو پروژو کې مالي مرستې کوي او د ځینو اسلامي مؤسسو او تنظیمونو د روسیې د حکومت په اجازت په ماسکو او د منځنۍ اسیا په ځینو ښارونو او سیمو کې د مرستې پخاطر خپلې نمایندګۍ هم جوړې کړې دي چې په یتیم تو نونو، روغتونونو او نور د خیر ښیګړو پکارونو مصارف کوي چې په دې کې تر اوسه پورې اسلامي ترقیاتي بانك (٤٠) لاکه ډالره ورکړې دي.

کله چې په دې ځینو سیمو کې نژادي او کورنی یا علاقایي شخړې او جګړې مینځته راغلې لکه چیچنیا، تاجکستان، ابخازیه، نګورنوکاراباغ او ... ددې جګړو په وجه مهاجرتونه مینځته راغلل، په لکونو خلك په مهاجرت مجبور شوي او تاواني شوي، د هغوی سره فوري مرستې شوي دي لیکن ددې با وجود د هغه ځای مسلمانانو خپلو ماشومانو ته اولني حق د اسلامي تربیت ورکړی دی او د هغوي میندو او پلرونو ددغو ټولو مشکلاتو سره سره خپلو بچو ته د اسلامي تعلیم د زده‌کړې زیار ویستلی دی او ددې خواهش او جذبه لري چې د هغوی اولادونه په اسلامي تعلیم ښایسته کړې شي، دوې د ماښام د لږ وخت د پاره هم اسلامي ښوونځي پرانستلي دي مګر ډیر لږ ځکه چې په ځینې سیمو کې د اسلامي ښوونکو تعداد ډیر کم دی او دا هغوی ته د ټلو څخه زیاته لویه مسئله ده چې ددې د حل د راویستلو لاري چارې لټوي لیکن په قازقستان او تاتارستان کې د عربي لوستو او د اسلامي تعلیم د ښوونې د پاره د ترکیې ښوونکو ډیر خدمت تر سره کړی دی. په منځنۍ اسیا کې د والدینو په وړاندیزونو د حکومت د ښوونې او روزنې وزارتونه په ښونځیو کې داسلامي تعلیماتو نصاب زیات کړی دی په دې هکله د ښوونې او روزنې وزارتونو د اسلامي هیوادونو څخه لیار ښوونه حاصلوي. له دې کبله د منځنۍ اسیا ایالتونو ته د اسلامي نصاب ډیر ضرورت دی، له دې امله هغه اسلامي مضامین چې په عربي، ترکي او انګلیسي ژبو کې دي باید په روسی او سیمه یزه ژبو ترجمه او وژباړل شي. په دې وخت کې ددې هیوادونو ازاد بین المللي تنظیمونو لکه IIRO, WAMY, SSAR_ FOUNDATION SANT-LADA په داغستان کې ددعوت او ارشاد اداره هم جوړه کړې ده او ددې دعوت او ارشاد ډیر نصاب په روسی او سیمه ایزو ژبو ترجمه کړې شوی دی لیکن د (CIS) د (٧٠) ملیونه نفوس د پاره په (٨) ژبو موجود تعلیمي نصاب د سمندر په پرتله د یو څاڅکي حیثیت لري په تعلیمي ادارو کې داسلامي مطالعي شوق ورځ په ورځ مخ په زیاتیدو دی، په دې وخت کې د ماسکو په سټیټ ینورسټیټ یعنی مرکزي پوهنتون کې د اسلام د ځانګړو موضوعاتو په څیړنو د سند ورکولو کورس شروع دی چې د شوروي اتحاد په وخت کې هیڅ‌چا دا

فکر هم نه شو کولای. سربیره پر دی په غیر سرکاری توگه داسی معیاري اداری جوړی شوی چي په هغوی کی د عربي ژبی ښوونه، د قرانکریم، حدیث نبوی، تفسیر شریف او سیرت النبي درس او سبق ورکړ کیږی.

په کال ۱۹۹۵ کی د کویټدځینو ښاغلو په مرسته په ماسکو کی د عربي ژبی د زده کړی د یوم مؤسسی بنسټ کیښودل شو چی د هغی ښوونکی د ماسکو پخواني د عربي ژبي استاد سید کمالیف دی. د ښځو تعلیم په اسلامي ټولنه کی ډیر ضروري دی ولی چی د ماشوم د پاره اولنۍ مدرسه دمور غیږه ده لیکن په منځنۍ اسیا کی د جونو اسلامي تعلیم د نشت برابر دی. په تاشقند کی د «میر عرب مدرسه» کي د نسوانو څانگه پرانستل شوی ده او دا یواځني دینی مدرسه ده، اوس بله د ښځو د پاره یوه خود مختاره، خپلواکه دیني مدرسه د فاطمة الزهراء په نامه په تاشقند کی جوړه شوی ده چی په دی کی د هر عمر ښځی ددینی علم د زده کړی پخاطر داخلیدلای شی چی تراوسه پوری په کی یو زر شاگردانی شامل شوي دی او دا رنگ په داغستان کی هم د ښځو د پاره یوه دینی مدرسه جوړه شوي ده. اسلامي ښوونی په ښځو ډیر ښکاره اثر غورځولی دی چي د اسلامي حجاب یعني پردی پحال کی لیدل کیږی او د اسلامي پردی ښوو نکو ښځو تعداد ورځ په ورځ زیاتیږی. د کمیونستانو د عروج په وخت کی د ښځو د پاره پرده یا حجاب جرم ؤ. اوس د منځنۍ اسیا د لیکوالانو او پوهانو ته دا رنگ احساس پیدا شوی چی په دی خپلی لیکنی پیل کړی او د منځنۍ اسیا د اسلام تاریخ له سره څخه بیا لیکنه شروع کړی ولی چی په دی وخت کی لا هغسي د کمونستانو د وخت تاریخ په ښوونځیو کی لوستل کیږی چی په هغی کی د منځنۍاسیا د اسلام د راتلو هیڅ کوم ذکر ندی شوی او که چیری شوی هم وی د نشت برابر دی.

اگر چی په پوهنتونونو او ځنی خپلواکه ادارو کی د اسلام د تاریخ په مختلفو اړخونو کتابونه لیکل شروع شوی دی ولی بیا هم کفایت نکوی لکه داوښ په خوله کی زیره ورکول دی چی هغه د مسلمانانو ضرورت نه شي پوره کولای. په منځنۍ اسیا کی د اسلام ژوند واضح لیدل کیږی ولی د اسلامي هیوادونو مشران کمونیست دی او د هغوی جواب د خپل ځان څخه د دفاع پخاطر ډیموکراسي ده. د دی د پاره چی اسلام د خپلو پالیسیو معیار وگرځئ دا ددوی یو ناوړه عمل دی چی وایي: اسلام د سیاست او حکومت څخه یو جلا عمل دی. او د اسلام عمل په حکومت کي هیڅ دخل نلري.

او په اسلام باندی اوس هم هغه بندیزونه شته کوم چی د کمونستانو په دور کی په اسلامي نظام لزیدلیږؤ. په منځنۍ اسیا کی چی د اسلامك ریولست گوند په نامه په ۱۹۹۰ کی یو سیاسي گوند تأسیس شوی ؤ هغه اوس هم د بي شماره ستونزو سره مخامخ دی. د منځنی اسیا په ډیرو اسلامي هیوادونو کی تر دی وخته ځینو هیوادونو نه یوازی په رسمیت نه دی پیژندلی بلکه په ازبکستان کی د هغه ډیر رهبران د ښاغلی عبدالله «عطاء» په شمول په محبس کی پراته دی لیکن تاجکستان یواځنی هیواد دی چی پورته یاد شوی گوند ئی په رسمیت پیژندلی دی خو دا هم یو بدمرغي وه چی د ۱۹۹۲ په انتخاباتو کی روسانو او کمونستانو په گډه جمهوري اتحاد ته ماتی ورکړه. لیکن د ۱۹۹۲ کال څخه د IRP د ماتی خوړو وروسته د دغه گوند رهبران افغانستان ته په پناه وړلو مجبور شول چی په کي ښاغلي محمد شریف، عبدالله نوری، عثمان دولت او داسي نور شامل وو چی نوموړو کسانو د کمونستانو پر ضد جهاد اعلان کړ.

#

د دعا د قبليدو وختونه

۱-مظلوم:

د مظلوم د خيرأو په هكله زيات احاديث رانقل شوي دي، پدغه باب د حضرت عبدالله بن عمر (رضى الله عنه) څخه روايت دي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي:

د مظلوم له آه او فرياد نه ځانونه ساتئ، ځكه د هغوى فرياد د آسمان په لور ځي او دا فرياد د اور د شغلو په څير وي. (حاكم)

د حضرت انس بن مالك څخه روايت دي چي الله رسول (صلى الله عليه وسلم) فرمائي:

د مظلوم د خيراؤ څخه ځان وژغورئ ، ولو كه هغه كافر هم وي. ځكه د الله تعالى او د هغه ترمنځ هيڅ پرده نه وي. (احمد)

يعني د الله تعالى او د مظلوم د دعا په منځ كي هيڅ پرده حايله نه وي او نه د هغه د دعا په قبوليت كي څه ځند راتلى شي او د الله تعالى په دربار كي د مظلوم فرياد ډير ژر قبليږي.

ځكه خو يو شاعر وائي:

يوه ورځ به پرى دا ټول جهان لوګي شي
د مظلومو اسويلي مړۀ كيږي نه

۲- مسافر او پلار:

د مسافر دعا ډيره ژر قبليږي، خصوصاً چي هغه د كومي خيرښيګڼى د نيت په سفر روان وي. د مثال په ډول د اسلام د دعوت په غرض له كوره راوتى وي، يا د الله تعالى په لار كي روان وي او يا هم د علم د حصول په غرض له كوره مسافر شوي وي.ليكن كه اراده ئى د كومي ګناه او معصيت وي نو الله تعالى په خپله ښه پوهيږي.

مګر د حديث مفهوم پدى دلالت نه كوى، د مسافر د دعا د قبليدو يوه وجه شايد دا وي چي مسافر يو اجنبى وي او د خپل كور،كلى او خپلو خپلوانو څخه جلا شوى وي، نو ځكه ئى الله تعالى د خپل رحمت او ساتنى تر سيورى لاندى ساتي او د هغه د دعا په قبليدو كي هيڅ شك كيدى نشي.

لكه څرنګه چي په يو صحيح حديث كي له حضرت ابوهريره (رضى الله عنه) څخه روايت دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلى دي:

درى ډوله دعاګانى مستجاب وى او د هغى په قبليدو كي هيڅ شك نه وى.

لومړى: د مظلوم دعا.

دويم : د مسافر دعا.

دريم :د اولاد پحق كي د پلار دعا. (ترمذى)

كومو خلكو چي د ذكر شوؤ خلكو سره نيك سلوك وكړ، نو د هغوى په حق كي به نيكه دعا او چا چي له دوى سره بد سلوك وكړ، زړه ئى ازار كړ او تكليف ئى ورته ورساوه نو د هغوى په حق كي به ئى بده دعا قبليږى.

همدارنګه اولاد ته پكار ده چي

پدې خبره غور وکړي چې که د ده پلار نه وي نو دى به دنيا ته څنګه راغلى وى. په يو حديث کې اولاد د پلار په نافرمانۍ وبرول شوى چې د خپل پلار نافرمانى ونکړى او پلار ته ويل شوي چې د خپل اولاد د نافرمانۍ په صورت کې په خيراو کې له تادۍ او جلدۍ نه کار وانه اخلى، بلکه لمړى دې ورته له الله تعالى نه د نيکى لارې د هدايت دعا وغوښتل شي.

پدغه حديث کې د مور د دعا ذکر ندى شوى ځکه د مور حق له دې نه هم زيات دى.

د عابدجريح په هکله ويل کيږي چې له هغه نه خپله مور خفه شوه او په خيراو کې ئې ورته وويل «الله تعالى دې تا د بدکارو ښځو په خوله کې وروڵى»

نو د هغې دغه دعا قبوله شوه او عابدجريح باندې يوې بدکارې ښځې د بدکارۍ تور ولګولو.

۳-د لمونځ ګذار، حج او عمرې د اداء کوونکو دعا:

د دغو درې واړو دعا الله تعالى مستجاب ګرځولې ده، ځکه دوى د الله تعالى احکامو ته لبيك ويلي او د الله تعالى دعوت ئې قبول کړى، د دې په بدله کې الله تعالى د دوى دعا پخپل دربار کې مستجاب ګرځولې او د دوى سوال ئې پوره کړى دى.

د حضرت عبدالله بن عمر رضى الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي:

لمونځ کوونکى د الله په لار کې وى او حج او د عمرې اداء کوونکي د الله تعالى بلونکي وي.

ځکه الله تعالى دوى خپل کور ته دعوت کړى وى، دوى د الله تعالى دعوت ته لبيك ويلى او دوى چې د الله تعالى نه څه غوښتلى هغه ئې ورله ورکړى. (ابن ماجه)

٤-د خپل دينى ورور په حق کې غائبانه دعا:

د حضرت ابو درداء (رضى الله عنه) څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله على وسلم فرمايلي:کوم مسلمان چې د بل مسلمان ورور په حق کې غائبانه دعا وغواړى نو فرښتې ورته ځواب ورکړي چې تاته دې هم د هغه په مثل ثواب دررورسيږي.

د حضرت صفوان بن عبدالله (رضى الله عنه)څخه روايت دى چې يو ځل زه د ابو درداء رضى الله عنه کور ته ورغلم خو هغه په کور کې موجود نه ؤ.د هغه مور راته وويل: آيا تا سږکال د حج د اداء کيدو اراده په رښتيا سره کړې ده؟

ما ځواب ورکړ. هو!

هغې راته وويل: نو بيا د الله تعالى په کور کې زما په حق کې هم دعا وغواړه. ځکه رسول الله (صلى الله عليه وسلم)فرمائي:

يو مسلمان چې د بل مسلمان لپاره غائبانه دعا وغواړى نو الله تعالى ئې دعا قبلوى. د هغه پر سر يوه فرښته وى او هغه ورته امين وائي او دا هم وائي چې تاته دې هم د هغه په مثل ثواب دررورسيږي. (مسلم-ابوداؤد)

د خپل بل مسلمان ورور په حق کې غائبانه دعا ځکه د الله تعالى په حضور کې ژر قبليږي چې په هغې کې کومه رياکارى نه وى.

د بعضى سلف صالحينو (رضى الله عنهما) به دا عادت ؤ چې کله به ئې له ځان لپاره دعا کوله نو خپل ورونه به ئې پکې هم يادول، ځکه دا دعا به د الله رب العزت په دربار کې قبليدله او له دې نه علاوه اجر او ثواب په کې هم شته.

نو ګرانو لوستونکو ورونو!

مونږ او تاسو له هم پکار ده چې د سلف صالحينو په تګ لاره عمل وکړو او هغه څه چې له ځان لپاره غوره ګڼو د خپل بل مسلمان ورور لپاره ئې هم غوره کړو.

الله تعالى دې مونږ او تاسې له د خپل خوږ نبى (صلى الله عليه وسلم) په ښودل شوو طريقو د عمل کولو توفيق راکړى. (امين)

مولوی محمد یونس «خالص» دعوت سره په مرکه کی وویل:

دافغانستان لانجه دکوتك او تمپك خولي ته ورغلی ده او زه نه غواړم چی د تمپك په خوله د چا سره خبرې وکړم

دعوت مجلي د معمول سره سم دخپلی نشراتي پاليسي مطابق چي په هيواد کی د جنگونو د ختمولو او د جهادی اهدافو په رڼا کی د اسلامي حکومت د جوړولو او استحکام په چاره کی کومه قلمی مبارزه پيل کړی ده او هميشه ئی د قرآن او سنتو په بنسټ د حکومت په جوړولو ټينگار کړی دی او هميشه ئي د بيلابيلو جهادی مشرانو او د نظر د خاوندانو نظريات منعکس کړی دی.

د مجلی اختصاصي خبريال په دی گڼه کی هم د افغانستان داسلامي حزب د امير مولوی محمد يونس «خالص» سره ځانگړی مرکه کړی ده چی د محترمو لوستونکو پام ورته را گرځوو. (د مجلی خبريال»

پوښتنه: همدا اوس چی په افغانستان کی د جنگونو او اختلافونو کوم ناتار شروع دی، تاسو د یو جهادی تنظیم د امیر په حیث دی صورت حال ته په کوم نظر گورئ او د څه کردار ادا کولو نیت لرئ؟

ځواب: زه چی دکومي ورځی نه په دائمي توگه ننگرهارته راغلی یم او د پاکستان د هجرت سره می وداع کړېده تر یوی اندازی پوری می انزوا اختیار کړي ده او په سیاسی او نظامي مسایلو پسی دومره نه یم گرځیدلی او چی په ما پسی څوك نه دی راغلی زه په چا پسی نه یم ورغلی.

ځکه چی د افغانستان مسئله یو خطرناك او بحراني حالت ته رسیدلی ده، سره ددی چی ما د یو مصلح په حیث کوشش کړی دی چی یو سوله ایز حل ئی راوویستل شی خو له بده مرغه ما تر اوسه پوری ددی کشالی مدخل نه دی پیدا کړی. ما تشخیص کړه چی ددی مسئلی مدخل او د حل لاره اوس د تمپك په خوله منحصر شوی ده او زه نه غواړم د توپك په خولی د چا سره خبری وکړم.خو زما او د ټولی دنیا په نظر د مسئلو حل تمپك نه بلکی مخامخ خبری او مفاهمه ده.

زمونږ پاك قرآن هم همداسی حکم کوی چی «و إن طائِفتان من المؤمنين اقتتلوا فأصلحوا بينهما فإن بغت إحداهما على الآخرى فقاتلوا التي تبغي حتّى تفيٓء إلى أمر الله» الحجرات-۹ که دوه مسلمانان سره په جنگ شول تاسو ئی په مینځ کی صلحه وکړئ او که کومی یوی ډلي صلحه په شریعت برابر

منله او بل نه منله تاسو د هغی باغي طايفي په مقابل کی پاڅيږئ او تر هغی ور سره جنګ کوئ چی هغه بيا صلحي ته قانع شی. مطلب دادی چی که بيرته د شريعت حکم ته راغي بيا ئی په مينځ کی صلح وکړئ.

اوس خو حالت داسی روان دی چی يا به د انجنير حکمتيار ملګری کيږي، او استاذ ربانی به ختموی او يا به د ربانی صاحب ملګری کيږي انجنير حکمتيار به ختموی اوس حالات همدغسي روان دی. چون په دی حالاتو کی مونږ ته دداخليدو ګنجايش نه ؤ ځکه مو انزوا اختيار کړه.

په دی نسبت مونږ په دی موضوع کی کاملاً اطلاع نلرو چی تاسو ته مثبت ځواب درکړو چی په واقعيت بنا وی.

پوښتنه: ځو موده وراندی داسی رپوټونه خپاره شول چی استاذ ربانی تاسو ته يو ليك راليږلي وو او په هغی کی ئی ستاسو نه د جمهوری رياست د عهدی د سمبالولو غوښتنه کړی وه دا خبره څومره ربښتيا ده؟

ځواب: دا خبره هيڅ حقيقت نلری چی ربانی صاحب په دی متن خط ليکلی دی دغسی خط ليکل د حکومت دسياست خلاف دی او معنی ئی داده چی هغي استعفی کړی ده البته په خط کی ئی راته ليکلی وو که خلك په تا قانع شی زه ئی هم منم. د استاذ ربانی سره زما هيڅ جنجال نه دی راغلی او نه ورسره کومه دښمنی لرم او نه می د نورو مشرانو سره کومه ماته ګوډه راغلی ده.

پوښتنه: هر کله چی استاذ ربانی تاسو ته په دی متن خط کی ليکلی وو چی که خلك دی و منی زه دی هم منم نو ولی حاضر نشوئی؟

ځواب: زه به هغه وخت دی عهدی سمبالولو ته حاضر شم چی خلك قانع شی تر اوسه پوری زما سره چا مرکې هم نه دی کړی او ما دغه دعوت رد کړی هم نه دی. هغه وخت چی ټول مشران حاضر شی او ټول خلك زما په دی مشر توب قانع شي، هغه وخت به بيا ګورم چی زه دغه دروند بار په اوږو اخستي شم او که نه. د همغه وخت خبره ده.

پوښتنه: عام ذهنيت داسی دی که چيری د افغانستان موجوده جنګی او سياسی بحران حل نشی او جهادی مشران يوې غوڅی فيصلی ته ونه رسيږی، د بهر څخه د جهادی اهدافو خلاف حکومت تپل متصور دی ستاسو د نظر ټکی څه دی؟

ځواب: زما نظر همدا دی چی جنګونه او اختلافونه د اسلامي حکومت د جوړيدو په مخکی يو لوی خنډ دی. همدا اوس داسی ځواکونه او ارګانونه شته دی چی هغوی نه غواړی په افغانستان کی اسلامي حکومت جوړ شی اوس زمونږ واك او صلاحيت دبهرنيانو سره دی لکه څنګه چی روس دلته مداخله وکړه او اوس هم دلته پلويان لری دغسی نور ملکونه هم په دي رديف کی تخريبي فعاليتونه کوی.

ځکه نو دا خبره سمه ده چی که چيری جهادی مشران خپل مسايل په خپله په جهادي هويت حل نکړی د بهر نه به دغسی يو افت رانازليږی چی د اسلامي حکومت د جوړيدو ارمانونه به په اوبو لاهو کړی.

خو تر اوسه پوری چی دغه افت نه دی راغلی وجه ئی دا ده چی په افغانستان کی صادق جهادی شخصيتونه ډير دی،د خارج نه ئی ددی افت د نزول مخه نيولې ده. خو که چيری په ملت باندی ددی نه زيات فشار راځی د يو ملی انفجار خطره هم نشی متنفي کيدی.

پوښتنه: تاسو ديو جهادی مشر په حيث په اوسني وخت کی د افغانستان لانجي د غوڅولو د پاره څه سپارښتنی لرئ او عامو افغانانو ته مو پيغام څه دی؟

ځواب: زما سپارښتنه هماغه ده چی الله جل جلاله په قرآن کی فرمايلی دی: «و إن تنازعتم في شئ فردوه إلى الله والرسول» أنفال- که په الله تعالی او ورځ د قيامت باندی باور لرئ چی په کوم شی کی مو نزاع پيدا شوله دا د الله او رسول صلی الله عليه وسلم احکامو ته حواله کړئ.

طالبان دی، که حکومت دی، که انجنير حکمتيار صاحب دی، که بل مسلمان دی.دا مکلفيت لری چی سره کينی او حاکم مقرر کړی او حاکم فيصله وکړی چی دا پر دې ظلم کوی او د الله تعالی په همدی فيصلی دی عمل وکړی شي.

آرامش بعد از توفان

حامد علمي

بخش دوم

اهالی دره خود را پرچمداران جهاد افغانستان میدانند و ادعا دارند که اولین قیام علیه حکومت نورمحمد تره کی از آن دره آغاز شده است.

با حاجي فاروق (یکي از بلندویان تنظیم جماعت الدعوت که بعد از کشته شدن مولوی جمیل الرحمن از سیاست کناره گرفت) به دره پیچ رفتم. حاجي فاروق این دره را بادره های کشمیر مقایسه میکرد و ادعا داشت که اگر حکومت به دره پیچ توجه کند به مراتب زیباتر از کشمیر خواهد شد. من حرف او را تصدیق میکردم زیرا دره پیچ با وجودیکه توسط کوه های سرفلك کشیده احاطه گردیده ساحه وسیع و میدان های فراخ نیز دارد که کشمیر از داشتن میدان های فراخ وسرسبز محروم می باشد.

حاجي فاروق که نیز برای رفع خستگی به دره پیچ آمده بود رویه من کرد وگفت: «روزیبا شیخ جمیل الرحمن از این دره میگذشتم، او برایم گفت زمانی فرا خواهد رسید که این دره عایدات خوبی به افغانستان وارد خواهد کرد وسیاحان وجهانگردان بیشمار اینجا خواهند آمد، ولی من و تو شاهد آن روز نخواهیم بود ».

بعد از تفریح کوتاه در دره پیچ حوالی شام به مرکز ولایت برگشتم. رویه روی مهمانخانه ولایت میدان والیبال قرار داشت و پسران جوان کنری مصروف بازی والیبال بودند. در جمع تماشاچیان والی کنر نیز دیده میشد که در گوشه اي آرام نشسته و به تماشا مشغول بوده. جوانان ازینکه والی کنر از مسابقه آنها دیدن میکند، با مهارت بیشتر هنر نمایی میکردند.

والی کنر اکثراً برای تشویق جوانان به ورزش از میدانهای ورزشی دیدن می نماید وعقیده دارد که روی اوردن جوانان به ورزش آنها را از سر گرم شدن به اعمال ناشایسته از قبیل اعتیاد به مواد مخدره دور می سازد.

والی علاقه داشت تا پایان مسابقه والیبال، آنرا تعقیب کند ولي ناگهان عده ای از مامورین ادارات مختلف رسیدند و هر یك دوسیه اي زیر بغل داشتند والی رویش را بطرف من نموده خندید وگفت: «مامورین ما نند مگس ها همیشه مزاحم ما میشوند، باید از دیدن مسابقه صرفنظر کرده به امور آنها رسیدگی کنم».

بعد از نمازشام جمعي از ریش سفیدان به مهمانخانه ولایت ریختنده با صداهای بلند حرف میزدند وبالای یکدیگر انتقاد میکردند و چند تن از شوخ طبیعتان آنها میگفتند و می خندیدند ودیگران را می خنداندند وکلمات نیشدار ردو بدل می نمودن ریش سفیدان جلسه شانرا آغاز نمودند و می خواستند موضوع زدو خوردی را حل و فصل نایند که چند روز قبل میان دو فرمانده سابق مجاهدین بوقوع پیوسته بود جلسه تا دیر وقت دوام کرد و اعلان گردید که تافردا شب به تعویق افتاده و باید ریش سفیدان فردا با دو تن از فرماندهان سابق از نزدیك دیدار و گفتگو نماید.

اگر چه در جلسه میان چندریش سفید کلمات تند رد بدل شد ولی با خند های بلند به پایان رسید فضل اکبر منشی والی که عضو جلسه نیست در کنارم نشسته بود وقتي که ریش سفیدان مي خندیدند او هم دلش ذوقّق میزد رویه من نموده میگفت: «الحمد لله که همه خوشحالند، زمانیکه ریش سفیدان

خوشحال باشند ما وهمه ولایت کنر خوشحال خوایهم بود، هیچ کاری بازشتبی ولجبازی حل وفصل نمی گردد».

بازار اسعد اباد: شهرك اسعد اباد بازار پر جنب وجوش دارد دروسط چوك غرفه ترافیك قرار داشته وسه تن از مامورین ریاست ترافیك بالباسهای منظم در داخل و بیرون آن نشسته اند. در بالای غرفه بیرق سه رنگ سیاه، سفید و سبز دولت اسلامي در اهتزاز است و عکس بزرگ رئیس جمهور و تصویر مولوی جمیل الرحمن چهار طرف غرفه دیده میشود.

وضع بازار خوب است ولی بیشتر به یك بازارك پاکستانی شبیه است، به جزازلبنیات ماهي و لوبیا باقي همه اجناس از پاکستان وارد میشود، پول افغاني وروپیه پاکستانی هر دو در بازار رایج است ولی دکانداران مایلند تا اجناس شان را در مقابل روپیه پاکستانی بفروشند زیرا افغاني در مقابل روپیه پاکستاني دائماًدر نوسان است.

خواستم برای خانواده ام که از سالها باین طرف در پشاور پاکستان زندگی میکنند تحفه ببرم، یگانه تحفه که یاد وطن شانرا زنده میساخت ماهی است که هر صبح از دریای کنر گرفته و تا حوالی ساعت ده صبح به فروش میرسد. با خریداری چند کیلو ماهی خام موافقه کردم. پول ماهی فروش را تادیه نموده و از او خواستم تا به روز رفتن من ماهی را آماده کند. ماهی وطن با صد شوق در خانه پخته شد و حتی خارهای تیز تیز آن را مانند نیشکر می جویدیم و بقایای آنرا به آهستگی زیر لبه بشقاب پنهان میکردیم. غذائی وطن بعد از سالها دوری به خوانواده مالذت عجیب داشت و تا امروز که سفر نامه کنرم را می نویسم چند تن از اعضاي خانواده ما به یاد ماهي دهن های شان پر اب میشود.

کنر در یك نظر:

کنر اولین ولایت بود که علیه حکومت نور محمد تره کي به جهاد آغاز کرد و دومین ولایت بود که از تصرف نیروهای حکومتي آزاد شد و اداره آ به گروه های مجاهدین واگذار گردید (اولین ولایتی که به تصرف مجاهدین در آمد ولایت بامیان بود).

از روزیکه کنری ها به جهاد آغاز کردند تا امروز این ولایت فرازونشیب های زیادی رادیده است. اکثریت فرماندهان ارشد مجاهدین تعلیمات نظامي اولیه شانرا در کنر دیده اند. احمد شاه مسعود جهاد را از کنر آغاز کرد. غلام صادق والی کنر ادعا میکند که اولین گلوله که از تفنگ احمد شاه مسعود به سوی عساکر حکومتی شلیك شد گلوله بود که به قول والی کنر او به احمدشاه مسعود داده بود و تا حال والی کنر و مسعود روابط دوستانه و برادرانه دارند.

پروفیسور برهان الدین رباني رئیس جمهور فعلي افغانستان قبل از کودتاي ثور از چنك مقامات امنیتی حکومت محمدداود از کابل به کنر پناه برد و از آنجا راهي پاکستان شد. ده ها فرماندهان دیگر مجاهدین در کنر تربیه شده و روح آزادگی و آزدمنشي را از کوه های پر غرور آنجا آموخته اند.

کنّر امروز آمیخته از زیبایی ها وزشتی هاست. در دامنه کوه هاي سرسبزو مغرور، مزارع کوکنار دیده میشود اگر چه کشت کوکنار کمتر از یك فیصد مزارع کنر را احتوا میکند ولی پنج سال قبل که امارت اسلامي در کنر حکم روایي میکرد از کشت کوکنار خبری نبود.

در دامنه کوه های که افغانستان را از پاکستان جدا میسازد ده ها هزار چوب چارتراش افتاده که قاچاقبران افغان و پاکستانی از نقاط مختلف کنر خریداری کرده و به پاکستان مي برند نظر به ادعای یکي از معامله گران چوب یکجوره چارتراش در داخل کنربه پنجصد روپیه پاکستاني خریداری شده ودر شهر کراچي پاکستان به هشت هزار روپیه فروخته میشود صدها نفر شمشیرزن وتبرزن، تاجر، قاچاقبر، کرایه کش و خواری کش به این تجارت نامقدس مشغولند و اگر دیر بجنبیم وبرای جلوگیری از این عمل ضد منافع ملی اقدام نکنیم، کوههای سر سبز کنر را از دست خواهیم داد. حکومت مرکزي حکومت ایالتی و موسسات خیریه بین المللی باید هر چه زودتر داخل اقدام شوند اگر چه مقامات ولایت کنر ادعا دارند که

قطع اشجار را مدتها قبل ممنوع قرار داده و چارتراش های انبار شده قبل از اعلامیه دولت بریده شده است.

اما مایوس نباید بود. در کنار تخریب، کار باسازي کنر رونق خوب دارد. در سراسر این ولایت ۱۲۲ مکتب ابتدائیه، لیسه، متوسطه وعالي از طرف حکومت منظور گردیده و برای بکار انداختن بودجه و منظوری حکومت کار به شدت جریان دارد.

عبدالحمید «شورش» مسئول تعلیم وتربیه ولایت کنر ادعا داردکه در جمله ۱۲۲ مکتب ۱۲ لیسه نیز شامل است که ۱۰ لیسه پسران و ۲ لیسه برای دختران اختصاص داده شده و در لیسه های دختران اضافه از ۱۵۰ شاگرد و ۱۲ معلم مصروف تعلیم و تعلم اند. عبدالحمید شورش افزود: «عده ای از دختران فارغ التحصیل در مکاتب ابتدایی به صفت معلم کار خواهند کرد و چند تن به جلال آباد و یا کابل برای ادامه تحصیل خواند رفت». آقای شورش کمبود لوازم درسی و کدر فنی را از مشکلات اساسی در راه تعلیم و تربیه ولایت کنر می داند.

زمانیکه عبدالحمید شورش از تاسیس مکاتب حرف میزد، میان سخانش دویده پیشنهاد کردم که اگر در نزدیکی های قریه شنکورک ولسوالی شیگل زادگاه سید شمس الدین مجروح شاعر، نویسنده سیاستمدار توانای کشور و پدر شهید سید بهاالدین مجروح) مکتب عالی تاسیس میگردد بهتر است به یاد بود و قدردانی از خانواده مجروح که در جهاد علیه نیروهای شوروی سهم برازنده گرفته اند نام یکی از لیسه ها را به نام لیسه وزیر شمس الدین مجروح نامگذاری کنیم.

قسمت عمده شهر اسعدا آباد برق دارد. از توربین فابریکه تولیدی برق یکی آن فعال بوده و اخیراً از کابل انجنیران به کنر آمده بودند تا توربین دومی را آماده بهره برداری سازند. در حال حاضر (۲۵۰۰) خانه و دکان برق دارد اگر توربیندومی نیز فعال شود و ترانسفارمرها بکار شروع کنند،فابریکه برق قادراست به (۸۰۰۰) هزار خانه و دکان روشنایی ببخشد.

بهمین ترتیب ٦ بیمارستان در کنر فعالیت مینماید و ده ها کلنیك از جانب وزارت صحیه دولت اسلامی افغانستان و موسسات خیریه ایجاد گردیده است.

لوای سرحدی کنر با تشکیل ۱۸۰۰ صاحب منصب و سرباز کارش را شروع کرده و حکومت مرکزی هشت غند را برای مجاهدین کنر منظور نموده که در حال حاضر پنج غند آن منظم شده است. کنر مشکلات اداری زیاد دارد. عدم کدر و پرسونل فني، به نا بسامانی های افزوده، کمتر کسی حاضر میشود که به معاش محدود و ناچیز ماموریت دولتی قناعت کند. فضل اکبرسکرتر والی میگوید: کارکردن در ادارات دولتی جهاد است و همانطوریکه در زمان جهاد بخاطر دین ووطن از سروجان گذشته باید برای فعال ساختن اداری کشور نیز ایثار کنند که این عمل آنها جهاد و از خود گذری بوده و خداوند جل جلاله پاداش ایشان را خواهد داد. ویمی افزاید: معاش ماهوار یك مامور دولتی سي یا چهل هزار افغاني است که معادل چهار صد کلدار پاکستاني میشود. این مقدار پول را یك پسر هشت ساله با خرید وفروش سگرت میتواند در یك ماه کمایي کند.

کنر ولایتی است که از وجود ماین ها پاك کاری شده و این امر باعث گردیده تا اکثریت زمین های زراعتي آن قابل بهره برداری باشد. علاوه از مردم کنر دوازده سازمان خیریه که در ولایت کنر فعالیت میکنند در راه رشد اقتصادي آن ولایت سهم برازنده دارند. با وجودیکه پول های گزاف از این سازمانها حیف و میل شهد و یا به کارهای غیر ضروری به مصرف رسیده ولی راه سازی، مکتب سازی، تعمیر و شفاخانه و ... این موسسات قابل تقدیر است.

مولوی جمیل الرحمن رحمه الله به حاجي فاروق گفته بود که دره پیچ پیشرفت زیاد خواهد کرد ولی من و توشاهد آن نخواهیم بود، ولی من دعا میکنم که کنر وسایر ولایات کشور عزیز و خفته بخون ما ترقي کند وسخت آرزومندم که من و تو شاهد آن باشیم.

په اسلام کي بنيادي حقوق

د شيخ محمد بن صالح العثيمين ليکنه

هغه فطري حقوق چي شريعت بحال کړی دی:

هر ډول تعريف الله لره ښائي، مونږ د هغه حمد او ثنا وايو، له هغه نه امداد او مرسته غواړو، له هغه نه د معافۍ او عفوی غوښتونکی او د هغه په لور رجوع کوونکی يو.

الله تعالى دی مونږ د نفسونو د ناوړه خواهشاتو او بدو اعمالو نه په امان کړی.

چاته چی الله تعالى هدايت وفرمائی، څوك دی چی گمراه به ئی کړی او څوك چی الله تعالى گمراه کړی څوك دی چی هغه ته هدايت وکړی.

زه گواهی ورکوم چی له الله تعالى نه پرته بل څوك د عبادت لائق نه دی. هغه احد او لاشريك دی او زه گواهی ورکوم چی محمد (صلى الله عليه وسلم) د الله تعالى ريښتينی رسول او بنده دی.

الله تعالى دی په تا (صلى الله عليه وسلم)، ستا په آل اوصحابه ؤ او په هر هغه چا چی په صداقت سره ئی ستا اطاعت کړی رحمت او سلامتی نازل کړی.

امابعد! د الهی شريعت له جملی څخه يو هم عدل دی، چی پدغه باب زيات تاکيد او ټينگار شوی .

حق د هر حق لرونکی بنيادی غوښتنه ده، چی بايد پرته له کوم زياتی او کمی اداء کړی شی.

لکه څرنگه چی الله تعالى عدل، احسان او اقاربو ته د هغوی د حقوقو د ورکړی حکم فرمايلی دی، په عدل سره ئی دنيا ته خپل استاذی ژاواستول او کتابونه ئی نازل کړل، نو پدغه ډول ئی دنيوی او اخروی چاری هم قايمی کړی.

څرنگه چی وړاندی وويل شول حق د هر حق لرونکی بنيادی غوښتنه ده او بايد هر چاته د هغه د سوئی په اندول حق ورسول شی نو لمړی پکار ده چی د حقوقو د ورکړی معرفت حاصل کړو.

نو د حقوقو د پوره وضاحت لپاره مونږ پدي بحث کي دغه موضوعاتو ته ځاي ورکړي.

١- د الله تعالى حق.
٢- د رسول الله(صلى الله عليه وسلم)حق.
٣- د مور او پلار حقوق.
٤- د اولاد حقوق.
٥- د خپلو خپلوانو حقوق.
٦- د ميرمن او څښتن حقوق.
٧- د گاونډيانو حقوق.
٨- د حاکمانو حقوق.
٩- د رعاياؤ حقوق.
١٠- د عامومسلمانانو حقوق.
١١- او د غير مسلمو حقوق.

لمړی د الله تعالى حق:

دا حق د ټولو حقوقو څخه زيات مقدم، ضروری او تر ټولو لوی دی. دا د ټولو کائيناتو د خالق، مالك او د ټولو چارو د سمبالونکی بادشاه حق دی.

دا د هغه ذات حق دی چی ژوندی کوونکي او فنا کوونکی رب

دی.

دا د هغه ذات حق دی چی ځمکه، آسمانونه او ټول کائینات د هغه په جکم او حکمت ولاړ دی.

دا د هغه ذات حق دی چی انسان ئی د یوی ناڅیزی نطفی څخه پیدا کړ، چی زمونږ په نظر دغه نطفه د ذکر وړڅیز هم نه ده.

دا د هغه ذات حق دی چی ستا پرورش او ساتنه ئی د خپلو ټولو نعمتونو سره وکړه. ته د خپلی مور په نس کی په دری ډوله تیارو کی وی، هلته نه چا تاته خوراك دروسولی شو او نه ئی داسی څیز درکولی شو چی ستا په پرورش او ساتنه کی ئی زیاتوالی راوستی وی.

دا د هغه ذات حق دی چی د مور په سینو کی ئی ستا د پاره شودی پیدا کړی او تاته ئی د هغی د خوراك فهم درکړ او والدین ئی ستا لپاره مسخر کړل او ستا مرسته او امداد ئی وکړ............

مرسته او امداد ئی د خپلو ټولو نعمتونو، عقل او فهم سره او ته ئی په ټولو هغو څیزونو پوهه کړی چی فایده تری حاصلوی شی.

والله اخرجکم من بطون أُمّـهٰتِکم لاتعلمون شیئاً و جعل لکم السّمع و الابصار والافئدة لعلکم تشکرون۝ (النحل -۷۸)

د پیدایښت په وخت کی تاسی په هیڅ شی نه وی خبر او نه په څه پوهیدی. پاك الله تاسی ته د علم ذرایع او پوه لرونکی زړه درکړ چی هر یو د دغو بالذات پخپله هم لوی نعمت دی او د لکونو نورو نعمتونو د متمتع کیدلو وسائل هم دی، که سترګی، غوږونه، عقل، حواس او جوارح نه وی نو د ټولو ترقیاتو .وروونه به بندیدل.

که الله تعالی د سترګو د رپ په اندازه خپل رحمت له تا لری کړی وی نو ته به ژوندی نه وی پاتی . نو پوهه شه چی د هغه حق له ټولو حقوقو څخه زیات مقدم دی. ځکه د هغه حق ستا د پیدایښت، پرورش او ستا سره د هغه د مرستی او امداد حق دی. بی شکه چی الله تعالی نه له تا رزق غواړی او نه خوراك.

«لانسئلك رزقاً نحن نرزقك و العاقبة للتقوی»(طه -۱۳۲)

ترجمه: نه غواړو مونږ له تا څخه روزی (نه ستا او نه ستا د اهل نه)بلکه مونږ رزق (روزی) درکوو تاله، عاقبت ښه خاتمه پرهیزګارانو له ده.

الله تعالی صرف ستا نه د یو څیز غوښتونکی دی او هغه دا چی ته یواځی د هغه ذات عبادت وکړه چی هغه لاشریك او احد دی.

«وماخلقت الجنّ و الانس إلّا لیعبدون۝ما أرید منهم من رزقٍ و ما أرید أن یطعمون۝إن الله هو الرّزّاق ذوالقوة المتین»

(الذاریات۵۶-۵۷-۵۸)

ترجمه: او ما پیریان او انسانان د دی لپاره پیدا کړی چی هغوی زما عبادت وکړی، زه نه له هغوی رزق غواړم او نه دا غواړم چی دوی په ما طعام وخوروی. الله پخپله رزق ورکوونکی، زوراور او مضبوط دی.

هغه ستا نه دا غواړی چی د عبودیت په هره معنیٰ کی ته د هغه ریښتینی بنده جوړ شی. ځکه د ربوبیت په ټولو چارو کی هغه ستا پروردګار دی.

ستا له بندګی څخه الله تعالی ته هیڅ ګټه نه رسیږی، هغه ستا مالك او بادار دی خو داسی مالك نه دی چی خپلو نوکرانو ته ووائی تاسو ئی ماله وګټئ او ماله ئی راوړئ او زما په مخکی د خوړو او څښلو شیان کیږدئ .

د هغه ذات د داسی تخیلاتو څخه پاك او اوچت دی. ستا په شان عاجزه او ناتوانه بنده به د هغه مالك الملك، قادر، توانا او زوراور بادشاه په وړاندی څه خدمت وکړی شی.

الله تعالی د بندګی امر په تا ځکه کړی چی ته د هغه عظمت او کبریا قولاً او فعلاً قبوله کړی تر څو د هغه د خصوصی انعامونو او مراحمو مستحق وګرځی.

«ومابکم من نعمةٍ فمن الله ثم اذا مسّکم الضّرّفالیه تجٔرون»

(النحل- ۵۳)

ترجمه: کوم نعمت چی تا ته دررسی هغه د الله له اړخه دی.بیا

چې تا ته کوم تکلیف (خفگان) در رسی نو ته د هغه (الله) په وړاندی په زاری او فریاد شئ.

دا ؤ هغه حق چې الله تعالي له ځان لپاره واجب ګرځولي دي، پدي کي د انسان لپاره هیڅ ډول تنګي او سختي نده ایښودي شوي.

دغه حق ډیر لږ دی مګر د هغه چا له پاره اسان دی چی الله تعالی چا ته توفیق ورپه برخه کړی.

الله تعالی فرمائی:

«وجاهدوا فی الله حق جهاده هواجتبکم و ماجعل علیکم فی الدین من حرج ملة أبیکم إبراهیم هو سمّاکم المسلمین من قبل وفی هذا لیکون الرسول شهیداً علیکم و تکونوا شهدآء علی الناس فأقیموا الصلوة وأتوالزکوة واعتصموا بالله هومولکم فنعم المولی و نعم النّصیر» (الحج -۷۸)

ترجمه: او د الله په لار کی جهاد وکړه څرنګه چی د جهاد حق دی. هغه ته غوره کړی او په دین کی ئی په تاسی هیڅ سختی ونکړه، او ستا له پاره ئې ستا د پلار ابراهیم دین خوښ کړ، هغه په مخکینیو آسمانی کتابونو کی ستا نوم مسلمان ایښودی ؤ او په دغه کتاب کی ئی هم همدغه نوم ایښودی دی.

نه جهاد کوه تر څو رسول په تا ګواه وی او ته په خلکو ګواه شه. لهذا لمونځ قایم کړئ او زکوة اداء کړی او د دین رسۍ په مضبوطۍ سره ونیسئ، هم هغه ستاسی ښه مالك، ښه مرسته کوونکی او ښه مددګار دی.

د خپل نفس د تهذیب او د دنیوی چارو د سمون او اصلاح لپاره داسی زیار او کوښښ وکړئ چی د دی ستر او اهم مقصد لپاره وړ او له شان سره ئی مناسب او موافق وی.

دا چی تاسی د دنیوی مقاصدو د بری او کامیابۍ لپاره څومره تکلیفونه او زحمتونه په ځان قبول کړی، نو دا خو ستاسی د دین او آخرت د دایمی بری او کامیابۍ لاره ده. پدی کی چی تاسی څومره زحمت او محنت ومومی بیا هم د انصاف له مخی کمه ده.

په شپه او ورځ کی په تا پنځه وخته لمونځ فرض دی، چی د هغی په واسطه الله تعالی ستا خطاګانی ښئی، درجی دی اوچتوی او د زړونو اصلاح کوی.

لمونځ انسان د خپل وس او توان په اندازه په ځای کوی. «فاتقوا الله ما استطعة» (څومره چی ستا نه پوره وی له الله تعالی نه ووېریږه).

حضرت عمران بن حصین رضی الله عنه چی ناروغه شولو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

«صل قائماً فإن لم تستطیع فقاعداً فإن لم تستطیع فعلی جنب».

ترجمه: په ولاړه لمونځ کوئ، که په ولاړه ئی نه شئ کولی نو په ناسته ئی اداء کړئ او که په ناسته درته تکلیف وی نو بیا ئی په ملاسته (په اشاره) اداء کړئ.

زکوة: دا ستا د مال هغه لږه شان برخه ده چی ته به ئی په ضرورتمندو مسلمانانو، فقیرانو، مساکینو، مسافرو، قرضدارو او په هغه چا چی د زکوة مستحق وی تقسیموی.

روژه په ټول کال کی یوه میاشت وی.

« فمن کان منکم مریضاً او علی سفر فعدة من أیام آخر» (البقره-۱۸٤)

ترجمه: او هغه څوك چی ناروغه او په سفر وی نو هغوی دی د خوړل شوو روژو شمار په نورو ورځو کی پوره کړی.

د بیت الله حج په ټول عمر کی یو ځل په هغو مسلمانانو فرض دی څوك ئی چی استطاعت او توان ولری.

دا ؤ د الله تعالی د حق د اداء کولو اصول. له دی نه برسیره د الله تعالی په لار کی جهاد او یا د مظلوم سره مرسته او یا داسی نور اسباب چی هغه د ضرورت په وخت کی په انسان واجب ګرځی.

(نوربیا)

تر څو چې په حقیقي معنو کی مسلمانان اسلامي اساسات ونه مني، اسلامي حکومت نشي جوړیدی

د جماعت الدعوت نصب العین قرآن اوسنت ته في سبیل الله بلنه ده

مولوی عبدالرحمن «خوزیانی»

د افغانستان داوسنی کړکیچن او جنګی صورت حال دخرنګوالی او یوی دائمی سولی ته د رسیدو په مقصد د عالمانو، مسؤلینو، قوماندانانو او د نظر د خاوندانو سره د مرکو په لړ کی د دعوت د مجلی خبریال په ننګرهار کی د جماعت الدعوت الی القرآن والسنة ددفتر مسؤل نماینده محترم مولوی عبدالرحمن خوزیانی سره مرکه کړی ده چی تاسو محترمو لوستونکو ته یی وړاندی کوو.

پوښتنه: دا راته ووایه چی په افغانستان کی د اوسنیو خونړیو جنګونو انګیزه څه ده او په دی لړ کی دجهادي اهدافو سپاربښتنه څه ده؟

ځواب: اوسني بحران چی خومره پیدا شوی دی او لا د بده مرغه جریان لری، اساسی علت ئی د اسلام نه لری والی دی، هر کله چی مسلمانان اسلام خپل کړی او اخیرت په نظر کی ونیسی انشاء الله چي موجوده ستونزی به ډیری زر ختمي شی، اوسنی حالت د جهادی اهدافو سره هیڅ سمون نلری او ددی غټه وجه دا ده چی هر څوك د خپل تنظیم دمظبوطولو او پراخولو په کوشش کی دی او ملی منافع ئی شاته کړی دی.

دقدرت او د کابل دجمهوری ریاست په چوکۍ باندی دقبضي دپاره نظامی مقابله روانه ده.

که نه نو ددوی اختلاف په څه کی دی...؟ دعوه کوی چی رب مو یو دی، پیغمبر مو یو دی، وطن مو یو دی. خو سره ددی هم په خپلو کی سره غوښه او چاړه دی او په مورچلو کی سره ناست دی ځکه نو ټول تنظیمونه او تنظیمی مشران د جهاد د اهدافو بر عکس عمل کوی.

پوښتنه: ددی د پاره چی هم یو مظبوط اسلامي مرکزی حکومت جوړ شي او هم اوسنی جنګی ناتار پای ته ورسیږی د یو عالم او د جماعت الدعوت د نماینده په حیث مو د نظر ټکی څه دی؟

جواب: زما مشخص نظر دادی چی مرکزی مظبوط حکومت هغه وخت جوړیدی شی چي خلك ئی وغواړی او په حقیقی معنو کی اسلام ته رجوع وکړی، اسلامي حکومت جوړیدی شی خو

چې څوك په دې لاره كې يو ګام هم نه اخلي خپله به څنګه جوړ شي؟

دا خلك چې چغې وهي چې اسلامي حكومت يعنې څه؟ يعنې دوى په هر صورت خپلې ګټې د لاسه وركول نه غواړي او دې وينا كې صادق هم نه دي.

پوښتنه: كه احتمالاً دولت او حكومت جوړيږي چې په هغې باندې د ټولو اتفاق وي، ستاسو په نظر كومو ډلو او اشخاصو ته پكې ونډه وركول په كار دي؟

جواب: په حقيقت كې خو ترجيحاً جهادي تنظيمونه ددې ټولو امتيازاتو مستحق دي چې وسله واله مبارزه ئې كړې ده. د نړۍ‌لوى كفرى طاقت ئې په ګونډو كړى دى خو اوس چې دوى په خپلو منځو كې نه جوړيږي اود اسلامي حكومت د جوړولو په كار كې ئې قابليت د لاسه وركړى دى پكار دادى چې ټول افغانان پكې شريك شي ځكه چې دوى اسلامي حكومت نه غواړي او په خپلو شخصي منافعو پورې كلك نښتي دي.

پوښتنه: كه چيرې جنګونه او اختلافونه همداسې دوام وكړي او د مسئلې د حل د پاره كومه نسخه ونه موندل شي، د څه ډول حالاتو د پيدا كيدو پيشبينې كوئ؟

جواب: په راتلونكې كې كه همداسې خپل منځي او بين التنظيمي جنګونه دوام پيدا كړي نو د جنګونو دغه اور به هيڅكله مړ نشي. ددې وجه داده چې دلته خود غرضي ده هر څوك ځان ته من واثئ او د ميم زر ما ټوله زما قصه ئې خپله كړې ده يو عامل ئې دادى او دوهم سبب ئې د ګاونډيو او بهرنيو مداخلو لاس وهنه ده چې د جنګ اور ته پوكې وركوي او هر يو د خپلې نفعې حكومت جوړول غواړي.

او د قوي اسلامي حكومت د جوړولو په لاره كې ئې ورته بنستيز خنډونه او موانع ايجاد كړي دي.

پوښتنه: دلته په ننګرهار كې د جماعت الدعوت ددفتر او نمايندګۍ جوړولو هدف څه دى او څنګه كولې شئ په اسلامي طريقه خلك دقرآن او سنتو دحكمونو دعملي كولو د پاره دعوت كړئ؟

جواب: په جلال آباد كې دجماعت الدعوت لكه چې د نوم څخه ئې څرګنديږي هدف دادى چې خلك په سمه طريقه دعوت الى الله ته راوبلي د الله دين او د پيغمبر صلى الله عليه وسلم سنتو ته د خلكو رابلل ئې اساسي هدف دي. په همدې اساس مونږ دلته د خلكو سره ليدنې كتنې لرو او د خرافاتو په ضد دتوحيد قرآني ارشادات ورته تفهيم شوي دي او كيږي.

مونږ دلته په جلال آباد كې ددعوتي تنظيم په حيث هميشه په رسمي محافلو كې ګډون كړى دى، د جنګونو د ختمولو او دقرآن او سنتو دحاكميت خبره مو ښه په جرئت سره كړې ده.

زه خپله د ننګرهار د عالمانو د شورا غړى يم او وخت په وخت مو په دې خبره تينګار كړى دى چې د اسلامي حكومت د جوړيدو نه بغير مونږ ته د اسلاميت او ترقي بله لاره نشته دى. يوازې اسلامي معاشره كولى شي چې د ظالم او مظلوم تر مينځ كرښه را كاږي او د ټولو انساني بد بختيو ټغر ورټول كړي، زمونږ ددعوت سلسله جاري ده دلته ددې نمايندګۍ له خوا ديني مدرسې چليږي، د قرآن كريم ترجمې او د احاديثو دورې كيږي او زمونږ ددعوت پروګرام په پوره دلچسپۍ سره د خلكو له خوا استقباليږي او تر څو پورې چې دا دفتر او نمايندګي وي زمونږ اسلامي دعوت به في سبيل الله كما كان چليږي.

پوښتنه: په اوسنې وخت كې طالبان د جنګ په ډګر كې د يو ځواك په حيث دولت سره پنځې ښخې كړې دي، تاسو د طالبانو دې غورځنګ ته په كومه سترګه ګورئ؟

جواب: دټولو نه مخكې زه دا خبره كوم چې د افغانستان خلك د ډيرو لويو ګناهونو سره مخ دي طالبان او ددې په شان نور تنظيمونه چې په هيواد كې ئې د جنګ اور بل كړى دى اصلي وجه داده چې دا يو عذاب دى چې الله تعالى په مونږ مسلط كړى دى چې اوس ئې د دولت او طالبانو د جنګ په شكل ددې عذاب نزول شوى دى.

دا پيش ګوئ هيڅوك نشي كوى چې طالبان به همغه حكومت جوړ كړي چې كوم الله جل جلاله او رسول الله صلى الله عليه وسلم غواړي دا ځكه چې د طالبانو د تحريك په ابتدا او انتها كې ئې حالات بدل څرګنديږي اول خو داسې فكر كيده چې دوى ټول عالمان دي او اسلامي حكومت به جوړ كړي شي خو اوس داسې معلوميږي چې دوى هم د يوې جنګي ډلې په حيث د اقتدار قبضه كول غواړي ځكه نور ددې غورځنګ سره د ملت پخوانۍ مينه كميږي او يو ړ شكونه ئې ورته پيدا كړي دي.

غــوره وينـاوي

ترتيب اوترجمه:ابو وليد

القرآن:

او مه کوئ پيروي د شيطان! بيشکه دا (شيطان) تاسی لره ښکاره دښمن دی.

(سوره البقره-۲۰۸)

سول الله صلی الله عليه وسلم فرمائي:

کومه تحفه مو چی د خپلو بچو لپاره کور ته راوړه نو اول
ي جينی له ورکړئ بيا ئی هلك له.
بی شکه چی دنيا ستاسو لپاره پيدا ده او تاسو د آخرت
پاره.
کور او مال هغه ميراث دی چی له پلار نه اولاد ته پاتی
سي، خو نيکه او صالحه ميرمن د الله تعالي نعمت وي.

حضرت عمرفاروق رضي الله عنه فرمائي:

* که غواړی چی ښه مرتبه حاصله کړئ نو علم حاصل کړئ.

* انسانان په دري ډوله وي. کامل، کاهل او لاشي.کامل هغه وي چی له نورو نه مشوره وغواړي او په هغي غور وکړي، کاهل هغه وي چی په خپله رائی روان وي او د چا مشوره نه مني او لاشي هغه وي چی نه په خپله صاحب الرائی وي او نه د بل مشورې ته غوږ نيسي.

حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه فرمائي:

په چا چی د بل نصحيت اثر ونکړ نو پوهه دی شي چي زړه ئي له
يمانه خالي دی.
انسان ځان ضعيف ګڼي خو بيا هم د قوي ذات نافرماني کوي.
د يو څيز سره بي حده محبت کول انسان ړوند او کوڼ کړي، د
رګ سره په زړه کي مينه پيدا کړه چي ژوند دی نصيب شي.

حضرت عثمان رضي الله عنه فرمائي:

* د هيچا نه اميد مه کوه، مګر صرف له الله تعالی نه او له هيچا نه مه ويريږه مګر د خپلي ګناه نه.

* خلك چي څه ډول آزمائي وئی آزمايه، خو لږم به له ماره کم نه ګڼي .

حضرت علي رضي الله عنه فرمائي:

* خواهش پرستي ورکوونکی ملګری او بد عادت زوراور دښمن وي.

* معافي او ګذشت ښه انتقام دی.

* د نورو له زړونو نه هغه وخت د شر لری کولو هڅه وکړه چی کله دې خپل زړه له شره پاك کړ.

غفلت

احمدشاه «وحدت»

پــه دنيــا چــي چــا اختيار كـړلـو غـفلت
سـزا وار بـه شـي پـه ورځ د آخـرت
چي ټول عمر په ريښمين بستر كي خوب كړي
پـه آخـر دي طمع نـه كړي د جنت
د شـيطان پـه وسـوسـو بانـدي عمـل كـړي
لـري ټبنتي د قـانونـه د قـدرت
تش پـه خـوله بانـدي خـو وائـي مسلمان يم
مونځ،روژه او د زكوة نه كړي نفرت
د دنيـا حـرص اخسـتي دي پــه مــخه
كـله كـوز وړپسي ځـي، كله اوچت
تـه ترڅـو بـه دا دنيـا جمـع كــړي يـاره
مـوړ بـه نشي د دنيـا پـه دي دولت
اخــر مــرگ بــه تـاله راشـي ډير پـه مـينه
خلاص به نشي كه ئي ډير وكړي منت
اي «وحدته» تـه پــه خـپله ښـه عـمل كـړه
پس د هـغي كــوه بل ته نصيحت

دلتہ او غبي لپاره ئی لوستل منع دی!

ایا خپل منځی جنګونه هم څه ګټی لری؟

د کوچنیانو د پلارطنزیه لیکنه

ای مسلمانانو! تیت پرك او جدا جدا ډلی ټپلی شئ، پام وکړئ چی یو لاس او متحد نشئ. یو صف جوړ نکړئ دا ځکه چی په تفرّق، پراګندګي، او داخلی دغرو کی زمونږ ډیری ښیګړی نغښتی دي. چی د هغی ټولو په ګوته کول زما د یو روپیز قلم له وسه وتلی خبره ده، خو بیا هم د خپل منځی ټکونی فوائد مشت نمونه خروار په لاندی ډول بیانوم:

لومړی دا چی د اسلام دښمنان به مونږ د ډیرو ډلو په شکل ګوری، نو له مونږ څخه به داریږی او پر مونږ به د یرغل کولو تکل نکوی، ځکه زمونږ ددین دښمنان خو دومره روسته پاتی خلك دی چي هغوی لا تر اوسه خپلي پوزی په لستوڼي صفا کوی.

دوهم دا چی که دښمنانو زمونږ له جملی څخه پر یوه ډله تاړاك وکړ اودهغي بیخ کنی ئی وکړه نو بله ډله به ئی په مخ کی ودریږی او د مشترك دښمن مقابله به کوی.

بله ګټه ئی داده چی مونږ به د ډیرو ډلو په صورت کی د مختلفو مملکتونو او خیریه مؤسسو، نړیوالو سازمانونو څخه ډیر کومکونه تر لاسه کوو او هر یو ټولګي خو به کم ترکمه یو هیواد یا څه نیکان خلك حمایه کړی، ځکه نیکان ډیر دی الحمد لله.

هوکی! داخلی جنګونه څه لږ معمولی غوندی سلبي ګوټی اړخونه هم لری چی هغه د یادونی وړ بالکل ندی.

او که ته راته ووائی: چی خپل منځی کوتك ماری په رښتیا ګټور کار دی. خو دا یو بل پسی په اخبارونو، راډیوګانو او دمطبوعاتي شبکو د لیارو څخه زهرجن تبلیغات کول، ناروا تهمتونه، بد رد ویل او یو بل بدنامول هم څه فائده مند دی؟

نو زه درته په جواب کی وایم: أی ساده مسلمانه! دا خو مونږ ددی لپاره یو بل پسی نغاری وهو، او ستونی مو یو بل پسی د تبلیغاتو له امله وچ شوی دی. ددی ګټه داده چی دښمنان وپوهیږی چی ګوره! مونږ د لغاتو او الفاظو خزاني لرو، د تقریرونو، مرکو او لیکوالی استعداد لرو او دا هم شو کولائی چی تور سپین او سپین برګی وګڼو، بابا! مونږ خو اوبه خړه وو، او کبان پکی نیسو، پدی خبرو ساده ګان نه پوهیږي... واه..واه.. زنده باد اختلاف.. ژوندی دی وی تنظیمونه... سر لوړی دی وی جنګیالیان!

* او که ته راته ووائی: چی دا وژل، تړل، په سرونو میخونه وهل، کورونه،جوماتونه، ملی شتمنی سوځول یا لوټ کول خو هیڅ فائده نلری.

نو زه درته وایم چی: دا سیاست دی، دا انقلاب دی، وران کورونه به د مترقی دنیا په نقشه جوړ او د جوماتونو به قبلی برابری شی.او چی په خپلو سترګی پخی نکړی، د بل پیشو ته هم برګ نشی کتلای.

* او که ته راته ووایی: چی دا ایاتونه او حدیثونه چی په یو والی او ورور ګلوی ټینګار کوی، او وایی چی: د الله تعالی په رسی (کتاب) کلکی منګولی ټینګی کړئ، او سره مه جدا کیږئ. خپل منځونو کی جنګونه مه کوئ، که نه تاسی به کمزوری شئ او هیبت او د بدبه به مو لاړه او ختمه شی.

نو زه درته وایم: جار قربان ددغه آیاتونو او حدیثونو، خو خبره دومره ده چی یا خو دغه ایاتونه او حدیثونه منسوخ شوی دی! او یا دا چی کوم جنګونه چی د مسلمانانو تر منځ واقع کیږی، هغي ته تفرّق نشی ویل کیدای! هغی ته اختلاف نظر ویل کیږی. ګوره! داسی جنګونه خو د صحابؤ او تابعینو په زمانه کی هم واقع شوی وه، خو هغی ته یو ملا هم جنګ ندی ویلی، بلکی ټول ئی د رائی او نظر اختلاف بولی!

اوسنی جنګونه خو د جنګ جمل حدّ ته ندی رسیدلی، او نه ور پکی د هغی په اندازه بی عزتی شوی ده!!

لنډه دا چی زه سیاسی مړز یم د هری یوی خبری جواب لرم.

که ته وایی... نو زه وایم ... که ته وایی... نو زه وایم...

هو! علماؤ رښتیا ویلی دی: چی په قرآني آیاتونو او نبوی حدیثونو کی داسی تاویلونه هم کیږی چی تاویلګر پری کفر ته ورسیږی.

اسلام او د بشر حقوق

د شهاب الدين ليکنه

په اوسني عصر کې د بشر حقوق يوه داسې مسئله ميدان ته راغلې چې هر شيطاني قوت غواړي د دې نه په استفادې سره د خپلو ګنو مقاصدو پر مخ لاره هواره کړي او په دغه توګه خپل دول دول شيطاني پلانونه او نظريات تطبيق کړي.

د بشر حقوق عبارت له هغو حقوقو څخه دي چې بشر کولاتې شي د دې نه په استفادې سره د خپل ژوند په منزلونو په اسانۍ او سوکالۍ سره عبور وکړي.

Human Rights يا د بشر د حقوقو اصطلاح په غربي نړۍ کې هغه وخت راڅرګنده شوه چې په ۱۹۴۸ ميلادي کال کې د سپتمبر په مياشت کې د ملګرو ملتو د حقوقو او قانون ماهرينو د اوږدو مشورو او مذاکراتو نه وروسته د يو ديرشو (۳۱) مادو په يوه ناقصه مسوده باندې توافق ته ورسيدل.

چې دا مسوده د دوی په فکر د بشر د حقوقو په حقله لومړی ګام ؤ چې دوی پورته کړ او دا ئې د بشر د حقوقو د ژغورلو لپاره يو اهم قدم وګاڼه. د بشريت د سوکالۍ نوی دور په اصل کې هغه وخت شروع شوی ؤ چې د اسلام ستر لارښود د عربو په خاوره کې د نوي بشري پيغام سره د دنيا پر مخ سترګې وغړولې او دا پيغام د اسلام هغه دين ؤ چې د ټول بشريت لپاره د ښېرازۍ او سوکالۍ سبب وګرځيداو د بشريت د ژوندانه ټول بشري حقوق او قوانين پکې په خپل خپل ځای رعايت او تضمين شوي وو او د بشري ژوند لپاره اسلام د يو مکمل نظام حيات په حيث دنيا ته راغی، نو پدې وجه په بشري ژوند کې کومه داسې نيمګړتيا په نظر نه راځي چې هغه په اسلامي قوانينو کې وجود نلري.

الله تعالی خپل خوږ پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) ته فرمائي: «اليوم اکملت لکم دينکم وأتممت عليکم نعمتي ورضيت لکم الاسلام ديناً» (مائده-۳)

ترجمه: بې له شکه ما مکمل کړ ستاسو لپاره ستاسو دين او پوره مې کړل په تاسو باندې خپل نعمتونه او غوره مې کړ ستاسو لپاره د اسلام دين. اسلام يو ناسخ دين دی او د دې دين قوانينو ټولې هغه خاليګاوې ډکې کړې چې په مخکنيو قوانينو کې موجودې وې. اوس د دنيا پر مخ هيڅ يو انساني اختراع شوی قانون د اسلام دې جامع دين چې د ژوند د هرې چارې په اړخ عبور لرې سره د مقابلې قابل او جوګه ندی.

پدې حقيقت ډيرو غير مسلمو هم اعترافونه کړي.

مستشرق او فيلوسوف Brona-dasho د اسلام پحقله وائي: زما په زړه کې د محمد (صلی الله عليه وسلم) د دين محبت موجود دی او دا ځکه چې دا يو ژوندی دين دی او هم دا يوازينی دين دی چې د ژوند لپاره په هره زمانه کې مناسب او صالح دی، ماچې د دې عجيب انسان (محمد صلی الله عليه وسلم) د ژوند په باب کومه مطالعه وکړه نو زه ويلی شم چې محمد (صلی الله عليه وسلم) بايد په «منقذالبشر» (بشريت ته نجات ورکوونکی) مسمی کړی شي.

هغه زياته وي چې زما يقين دی چې په اروپا کې به ډير خلك د محمد (صلی الله عليه وسلم) دين قبول کړي.

همدارنګه يو بل امريکائي چې يو بين-المللي صنعت کار دی چې پخوانی نوم ئې «کينستي پينز» ؤ چې اوس په يوسف اسلام نومول شوی دی، د اسلام د راوړلو کيفيت څه په دې ډول بيانوي:

زه د قرآنکريم او د محمد (صلی الله عليه وسلم) د ژوند مطالعې د اسلام په

عظمت پوه او قانع کړم، چې دا دين خالص دی او د اسلام په اعتناق ئی شکر وویست.

دارنگه یو بل مسلمان چې پخوا د «سریندرسنگ» په نوم یادیده او اوسنی نوم ئی عبدالله «مسلم» دی د اسلام پحقله داسې وائی:د کلیمې طیبې په ویلو سره په لومړی ځل د تیارې او جهالت نه رڼا ته راغلم او زیات خوشحاله یم او د الله تعالی نه شکر گذار یم چې پدې مبارك دین مشرف شوم.

دا د اسلام هغه اعجاز دی چې ټول دینونه ئی منسوخ کړه او اسلام پرې ناسخ شوی دی.

په اسلام کې د بشر ټول ذاتی، اجتماعی،اقتصادی. اوامنیتی حقوق په نظر کې نیول شوی چې بشر ورته په ورځنی ژوند کې ارتیا محسوسوی.

د خلقت له مخې بشر طبعاً دوه دوله پیدا شوی دی چې یو نارینه او بل ئی ښځینه جنس دی، دا دواړه جنسونه په یوه ټولنه کې د سایکل د دوه پایو په څیردیوله بل سره د ژوند په اوږدو کې کومك او مرسته کوی. په اسلام کې د بشر دی دواړو جنسونو ته خپل حقوق مساوی ورکړی شویدی او د یو بل په حقوقو د تجاوز اجازه نه ورکوی، البته نارینه ته د ښځو په نسبت مسئولیت یو څه زیات ورکړی شوی دی . لکه چې الله تعالی فرمائی:«الرجال قوامون علی النساءِ بمافضل الله بعضهم علی بعضٍ وبما انفقوا من اموالهم». (النساء - ۳۵)

د قرآن پاك په دې سورت کې د نر او ښځې د حقوقو په باب مفصل بحث شوی دی او د ښځې او نر د حقوقو مکمل رعایت پکې شوی دی او ښځې ته پکې هیڅ د خپلو حقوقو د شکایت موقع نه ده پرېښودل شوی. په دې ایت کې د ښځې او نر درجې ښودل شوی او د درجو په کمی زیاتی کې د الله تعالی یو حکمت دی او دا حکمت د رعایت کولو وړدی، ځکه په یوه کورنۍ یا ټولنه کې د نر پڅاړه مسئولیتونه د ښځې په پرتله زیات اچول شوی دی او ښځه د دغو مسئولیتونو څخه مستثنئ گڼل شویده.

دا د دې لپاره چې نارینه به د کور، ټولنې او د دولت د چارو مشری کوی ترڅو نظام ناقص او معطل نشي. په دې ځای کې د ښځې لپاره دا عدم مسؤلیت هم یوه مرتبه ده.

په غربی نړۍ کې دا ډنډوری وهل کیږی چې اسلام د ښځو حقوق غصب کړی او ښځو ته د دوئی په اصطلاح د نوی پرمخ تللی دور د تقاضو مطابق د ترقۍ اجازه نه ورکول کیږی. د دې په ځواب کې یوه امریکائی مسلمانه پیغله چې پخوانی نوم ئی«لی میلا» او اوسنی نوم ئی هاجره دی، د ۱۸ کالو په عمر کې د کولمبیا د مینزووری د پوهنتون د اجتماعی علومو محصله وه وائی:"له پخوا راهیسی زما په ذهن کې د کون، وجود او حیات په هکله سوالونه موجود وو خو د امریکا په ثقافت کې ما د دې لپاره موقنع ځوابونه نلرل، مگر د دغه سوالونو لپاره ځوابونه ما په اسلام کې وموندل.

بیا د اسلام په هکله وائی:اسلام یواځینی دین دی چې د ښځې او نر تر منځ ئی توپیر کړی دی.او دا دین دی چې عدل او انصاف پکې موجود دی.او هر فرد ته ئی خپل حریت او آزادی ورکړی او خپل خپل مسئولیت ئی وربخاړه کړی دی.

په وړاندې وائی: زما د خپل نوم نه مراد دادی چې زه د اسلام په لار کې جهاد وکړم او هم د پانگوال نظام په مقابل کې جهاد وکړم.

اسلام یواځینی دین دی چې په دې کې د انسان د هرې اجتماعی او سیاسی مسئلې حل موجود دی".

مونږنه پوهیږو چې د لویدیځ د ښځو د حقوقو نه مراد کوم حقوق دی چې په اسلام کې ښځو ته ندی ورکړی شوی؟

زمونږ په فکر غرب د ښځې حقوق بې حجابی او بې پردگی او د حیواناتو په څیر بې مهاره گرځیدلو ته وائی. د دوی په نظر په دفاترو او فابریکو کې مزدوری کول د ښځو حقوق دی.

مونږ به دا ووایو چې دا هم د هغو بې شرمو صیهونستانو ناوړه تبلیغات دی چې غواړی د اسلام مبین دین خپل راتلونکی نسل ته یو ناقص او د جبر نه ډك دین معرفی کړی، تر څو ونه شی کولی د اسلام د خوږو نه استفاده وکړی .

خو پدی نه پوهیږی چې اسلام یو الهی دین دی او تر قیامته به قایم او دایم وی.

که چیرې دوی واقعاً ځانونه د بشر د حقوقو غوښتونکی او علمبرداران بولی نو بیا په بوسنیا، الجزایر، کشمیر، چیچنیا، فلسطین او اذربایجان کې د بشر او مسلمانانو په خلاف د وحشت او ظلم اوورنه بل دی، دغو د بشر د حقوقو غوښتونکی ولې په دې حقیقت سترگی پټوی او د چوپتیا او بې غمۍ پرستنی ئی په سرونو راښکلې دی!!؟

ایډز یوه تباه کوونکی ناروغي ده
(AIDS)

لیک: لعل محمد افسوس

یو وخت داسی هم ؤ چی د نړۍ انسانان د سرطان(Cancer) له ویری په سخت تشویش او پریشانۍ کی پراته وو مگر اوس د هغه سرطان علاج تر کافي اندازي پوری ممکن شوی دی خو په نژدی وختونو کی یوه بله داسی مهلکه او تباه کوونکی د «ایډز» ناروغي منځته راغله چی د سرطان د تشویش ځای یی په نړیواله سطحه ونیو.

ایډز د شلمی عیسوی پیړۍ د آواخرو هغه تباه کوونکی ناروغي ده چی د بشری ټولنی په مرۍ یی خپلی داړی ښخی کړی دی او دا وخت یی هیڅ کومه د علاج نخښه نښانه نه ښکاری. دا ناروغي له یوی ورځی نه بلی ورځی ته ډیره په تیزۍ سره خپریږی. د یوی اندازی برابر هره ورځ د نړۍ تقریباً پنځه زره انسانان په دی ناروغی اخته کیږی.

د ایډز پوره نوم:

(Acquired Immunity Defeciency Syn-dromed) دي.

دا یوه ویروسي ناروغي ده چی د (HIV) وایرس له امله منځته راځي. د ایډز دغه وایرس د نن نه تقریباً دوه دری سوه کاله وړاندی د افریقا په شادوګانو (بیزوګانو) کی معلوم شوی ؤ، او وروسته بیا انسانانو ته نقل شو.

د ایډز ناروغي کومه داسی ساری ناروغ نه ده چی د نورو ناروغیو په څیر د یو انسان نه بل انسان ته د خوراک، څښاک او یا د ناروغ انسان د بستری او کالیو له په استعمال سره انتقال شی، د ایډز وایرس د انساني بدن په دفاعي نظام (Immunity) حمله کوی او له شپږ میاشتو نه واخله تر یو کال پوری موده کی یی له منځه وړی. نن سبا دی ناروغي په ټوله دنیا لړزان راوستلی دی او ورځ په ورځ ددي مهلکی وبا د اخته کیدو دایره پراخیزی، د ساینس پوهانو څیړنی وایی چی دا یوه بی واګو او لا علاجه ناروغي ده او یوازینی علاج یی مخنیوی او خلکو ته ددی مهلکی ناروغي د خطراتو په باب پوهه ورکول دی او بس.

په دی وروستیو وختو کی په لندن کی د ایډز د مخنیوی په باب یو کنفرانس جوړ شوی ؤ چی د بشری ټولنی د ژغورنی لپاره څه لاری چاری ولټوی. ځکه چی نن وخت دې مهلکی ناروغۍ په ټوله نړۍ کی د (۱۸) ملیونو انسانانو په مرۍ ګوتی ایښی دی چی یولس میلونه خلك یوازی په اروپا کی په دی ناروغي اخته دی. د یوی سروی له مخی تر کال دوه زرم میلادی پوری به دا اندزه (٤٠) میلونو ته لوړه شی. پاکستان ته ددی ناروغۍ د راتګ په باب پاکستان اروپایی هیوادونو ته د عامل کیدو ګوته نیولی ده، له هغی ورځی را په دیخوا چی په ۱۹۸۷م کي په پاکستان کی لومړنی د ایډز ناروغ مثبت تشخیص شو، تر ننه پوری په دی هیواد کی له (۸۰۰ نه تر ۱۰۰۰) شاؤخوا پوری انسانان په دی ناروغي اخته دی او له دي جملی څخه (۵۱) تنه یوازی په پیښور کی د مرګ په انتظار حیران پراته دی. دا اندازه د نورو لویدیځو هیوادونو په پر تله ډیره لږه ده. هغه هیوادونه چی د ایډز ناروغۍ پکی زیات تحفل او تکثر کړی دی لکه امریکا، تایلینډ، هند، برتانیا او جرمنی دی. څرنګه چي زمونږ ګران هیواد افغانستان له اولس کلنی جګړی را پدیخوا ګډوډ او تر اوسه پکی کومه محققه سروی نه ده شوی خو ویل کیږی چی په افغانستان کی هم دا ناروغي تثبیت شوی ده.

د خپریدو عوامل: لکه څنګه چی مخکی وویل شول د ایډز ناروغي د مصاب شخص سره له ناستی پاستی، خوراك څښاك او یا د اخته شخص د بستری او کالیو په استعمال سره سرایت نه کوی بلکه څو ځانګړی عوامل لری:

۱- دا ناروغي له یو انسان څخه بل انسان ته د جنسي تماس په وجه لګېږي یعنی له سړي څخه ښځې او ښځې څخه سړي ته او یا له سړي څخه سړي ته د غیر اخلاقي تماس له امله منتقل کېږي.

۲- هغه وینه چې د ایډز اخته شخص څخه بل انسان ته نقل شي، په دې ناروغي اخته کېږي.

۳- هغه مور چې د ایډز په ناروغۍ اخته وي، پخپل رحم کې یې ماشوم ته انتقالوي.

٤- هغه سیرنج چې ناروغ شخص ته استعمال شوی وي، بل شخص ته په استعمالیدو یې دا ناروغي انتقالیږي. او ځینې پوهان دا هم وایي چې د غاښونو او یا نورو جراحي سامال الاتو

په بدن کې پخپل حال پاتې کیږي. په لنډ ډول باید ووایو چې هر هغه ناروغي چې مزمن صورت اختیار کړي او په تداوۍ سره کومه نتیجه نه ورکوي، د ایډز د شك لپاره باید د وینې معاینه وکړل شي.

احتیاطي تدابیر:

۱-د جنسي بې لاریتوب او حیواني خواهشاتو د پوره کولو څخه باید ډډه وشي او په ځانګړي ډول له هغه اشخاصو څخه چې د ایډز په ناروغۍ اخته وي، غیر اخلاقي تعلقات تري قطع شي ځکه تر ټولو لویه وجه چې دا ناروغي په زیاته اندازه خپروي جنسي بې لاریتوب دی.

۲- همجنستوب (لواطت) او یا له فاحشو ښځو سره جنسي اړیکي چې له یوې خوا یو غیر اخلاقي فعل دی او له بلې خوا

تر څو پورې چې نړیوال خپل ژوند په اسلامي طرز او طریقه عیار نه کړي، تر هغې پورې ددې مهلکي ناروغۍ څخه خلاصون ممکن نه دی

چې د دې ناروغۍ مصاب شخص ته استعمال شوی وي او پرته له تعقیم څخه بل چاته استعمال شي، په دې ناروغی اخته کیږي.

تشخیص Diagnosis:

لکه څنګه چې وړاندې وویل شول چې د ایډز ناروغي د (HIV) وایرس له امله له یو انسان څخه بل انسان ته سرایت کوي او په پورته کرښو کې یې دا نتقال اسباب یاد شول، د تشخیص لپاره یې دومره وایو چې دا ناروغي د وینې د یوې مخصوصې معاینې (Test) پذریعه معلومیدلی شي، خو یوه خبره چې ګران لوستونکي ورته خاصه پاملرنه وکړي هغه دا چې د ایډز ناروغ پخپله د خپل اخلاقي بې لاریتوب له امله خپل ځان ډیر ښه تشخیصولی شي، بله دا چې که یو انسان ته کومه ناروغي لګیدلې وي او د لابراتواري معایناتو سره سره د (Antibiotcs) درملو په استعمال سره کومه مثبه نتیجه نه ورکوي نو لازمه ده چې د ایډز.لپاره خپله معاینه وکړي. ځکه دا ناروغي د انسان په دفاعي نظام حمله کوي او د بدن دفاعي نظام له‌منځه وړي، که پدغه صورت کې انسان ته هره ناروغي ولګیږي، د انتي بیوتیك درملو په ورکړې سره ناروغ صحت نه مومي او تر څو چې د بدن دفاعي قوت موجود نه وي انتي بیوتیك درمل د ناروغي عامل له منځه نشي وړلی.او ناروغي

د اسلام د مبین دین له نظره لویه ګناه ده باید ختم شي.

۳- هغه وینه چې لابراتواري معاینه یې نه وي شوې بل ناروغ ته ورنه کړل شي، که چیرې په وینه کې د (HIV) وایرس مثبت وي، په وینه کې د ایډز وایرس موجود دی.

٤- د ایډز د ناروغ د حجامت وسایل باید روغ انسان استعمال نه کړي.

٥- که د اسهال او تبې ناروغ یوه میاشت پر له پسې په دې ناروغۍ کې له تداوۍ سره سره همداسې پاتې شي او تداوي یې کومه مثبته نتیجه ورنه کړي، د ناروغ په بدن کې د (HIV) د وایرس اشتباه ده، ناروغ باید د ایډز لپاره خپله وینه معاینه کړي.

٦- ډاکتر سید عاطف حسین چې د پاکستان د جلدي امراضو متخصص دی وایي چې: هغه ښځې چې د خپلې ښکلا لپاره زیات کیمیاوي کریمونه استعمالوي، دا یې هم د ایډز د ناروغۍ یو سبب ګڼلی دی.

۷- د پورتنیو ټولو خبرو سره سره د مسلمان ملت لپاره ډیره د افتخار خبره ده چې د (WHO) اداری د لومړي ځل لپاره دا خبره منلې ده، تر څو پورې چې نړیوال خپل ژوند په اسلامي طرز او طریقه عیار نه کړي، تر هغې پورې ددې مهلکي ناروغي څخه خلاصون ممکن نه دی.

د صحابه ؤ (رضي الله عنهم) ژوند ته یوه لنډه کتنه

د محمدشیرین «اسد» لیکنه

حضرت أبو أيوب (أنصاری) رضی الله عنه

د دغه جلیل القدر صحابي(رضی الله عنه) خپل نوم خالد بن زید او د بنو نجار له قبیلې سره ئی تعلق ؤ.لقب ئی ابوایوب او د مدینې اوسیدونکی ؤ، نو ځکه ئی په خلکو کی په «انصاری» شهرت درلود.

هر مسلمان د ابوایوب انصاری رضی الله عنه عظمت، شجاعت او میرانی ته قایل دی. هغه ته دا اعزاز هم حاصل دی چی کله رسول الله صلی الله علیه وسلم له مکی نه مدینی ته هجرت وفرمایلو نو د عارضی استوګنی لپاره ئی د ابوایوب رضی الله عنه کور انتخاب کړ.

د ابو ایوب رضی الله عنه په کور کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ایستوګنی داستان دومره په زړه پوری او خوږ دی چی زړه ئی د بیا بیا اوریدو او لوستلو تلوسه کوی.

کله چی رسول الله صلی الله علیه وسلم له مکی نه مدینی منوری ته هجرت وفرمایلو نو د مدینی د اوسیدونکو له اړخه ئی تود هرکلی وشو، ځکه د مدینی هر اوسیدونکی پدی انتظار ؤ چی کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینی ته تشریف راوړی او هر یو تن دا هیله درلوده چی رسول الله صلی الله علیه وسلم به د استوګنی لپاره د هغه کور انتخابوی.

مګر رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینی ته نژدی په «قبا» نومی کلی کی د څه مودی لپاره پاتی شو او هلته ئی یو جومات هم جوړ کړ. دغه جومات په اسلامی تاریخ کی لومړنی جومات دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ئی په خپلو مبارکو لاسونو د بنیاد تیږه ایښودی ده چی نن د «مسجدقبا» په نوم یادیږی.

د «قبا» په کلی کی د څو ورځوله ایسارتیا وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم د مدینی په لور روان شو او د «یثرب» سرداران د رسول الله صلی الله علیه وسلم د استقبال لپاره لارو ته راوتی ووا او هر یو دا غوښتل چی رسول الله صلی الله علیه وسلم دی د هغوی سره پاتی شی.

خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

تاسو زما د اوښ مخه پریږدئ، دا د الله تعالی له اړخه مامور دی، چی په کوم ځای د الله تعالی رضا وه په هغه ځای به دا اوښ پخپله ودریږی او بیا به هم هغه ځای زما د استوګنی ځای شی.

د هر یو سترګی اوښ ته وی چی دا به د کوم نیك بخت انسان کور ته ودریږی، چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم اوښ به د چا له دروازی نه واوښت نو هغه به ډیر زیات خواشینی شو او د چا کور ته چی به نژدی کیده نو د خوشحالۍ نه به ئی زړه باغ باغ کیدۀ.

کله چی اوښ د ابوایوب رضی الله عنه کور ته راورسید نو په هم هغه ځای کښیناست. خو رسول الله صلی الله علیه وسلم تری راښکته نه شو، پداسی حال کی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د اوښ واګی نیولی وی، اوښ د لږی شیبی وروسته بیا پاڅید، خو د لږی فاصلی د تللو نه وروسته اوښ بیا راستون شو او بیا د ابو ایوب رضی الله عنه د کور په مخکی کی کیناست. پدغه وخت ابو ایوب

رضی الله عنه ورمنهٔ کړه او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ئی ښه راغلاست ووایه او دومره خوشحاله شو لکه د دنیا ټولی خزانی ئی چی په نصیب شوی وی،

د ابوایوب رضی الله عنه کور دوه منزله ؤ او بره چت ئی د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره خالی کړ، لیکن رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلی استوګنی لپاره د کور ښکته برخه انتخاب کړه. ابوایوب انصاری هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په انتخاب خاموشی اختیار کړه او دویم منزل(بره چت) ته پخپله لاړ.

کله چی شپه شوه او رسول الله صلی الله علیه وسلم ویده شه او ابو ایوب رضی الله عنه او میرمن ئی بره منزل ته لاړل نو فوراً ئی فکر شه او خپلی میرمنی ته ئی وویل:

دا مونږ څه وکړل! رسول الله صلی الله علیه وسلم به ښکته ویده وی او مونږ به د هغه نه په بره ویده کیږو!

ایا مونږ به د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پاڅه پښی زدو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د وحی تر منځ به مزاحم کیږو!؟

یقیناً دا خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په شان کی ګستاخی ده.

دواړو ښځه او خاوند ټوله شپه پدی فکر کی تیره کړه، خوب ئی ونښتید، سکون ئی لاړ او د پریشانئ په عالم کی ئی ټوله شپه دیوال ته په ناستی سبا کړه .

کله چی سهار شو او حضرت ابو ایوب رضی الله عنه د حضور صلی الله علیه وسلم څنګ ته ورغلو نو عرض ئی وکړ: یا رسول الله! په الله می دی قسم وی چی بیګا مو ټوله شپه سترګه نه ده پټه کړی.

رسول الله صلی الله علیه تری پوښتنه وکړه، ولی یا ابو ایوب؟

هغه ورته عرض وکړ! زمونږ په زړه کی دا احساس پیدا شو چی مونږ به په بره چت کی یو او تاسی به کوز یاست، مونږ ټوله شپه دیوال ته په ناستی تیره کړه، چی چیری په تا خاوری توی نه شی او ته ئی بده ونه ګڼی او دویم دا چی مونږ چیری ستا او د وحی په مینځ کی مزاحم واقع نه شو.

دغه خبری چی رسول الله صلی الله علیه وسلم واوریدې نو وئی فرمایل:

ابوایوب! فکر مه کوه ښکته اوسیدل ما پدی غوره وګڼل چی عام خلك زما د ملاقات لپاره ځی راځی او پدی کی نه تا ته څه تکلیف وی او نه ما ته.

حضرت ابو ایوب فرمائی: چی مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم مشوره اومنله، خو یوه شپه چی ډیر ساړه وو، زمونږ نه د اوبو منګی مات شو او ټولی اوبه توی شوی، ما او میرمنی می زر زر په اوبو برستن خوره کړه او د اوبو په وچولو مو شروع وکړه، چی چیری اوبه کوزی کوټی ته توی نه شی. کله چی سهار شو زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت ته ورغلم او ورته می عرض وکړ:

یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم)!

زه دا مناسب نه ګڼم چی تاسی دی کوز اوسیږئ او مونږ بره، او بیا می ورته د منګی د ماتیدو قصه هم بیان کړه او ورته می وویل که تاته مناسب ښکاری او ته بره تشریف یوسې نو زه به ښکته راکوز شم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم زما دغه عرض اومانه او بره چت ته ئی تشریف یوړو.

پدغه ډول رسول الله صلی علیه وسلم د ابو ایوب رضی الله عنه په کور کی اوه میاشتی تیری کړی او پدغه موده کی ئی یو جومات هم هغه ځای کی جوړکړ په کوم ځای کی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم اوښ د لمری ځل لپاره کښیناستلی ؤ.

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل هغه کور ته تشریف یوړو کوم چی د مدینی اوسیدونکو د رسول الله صلی الله وسلم لپاره جوړ کړی ؤ او په دغه ډول رسول الله صلی الله علیه وسلم د ابو ایوب رضی الله عنه په ګاونډیانو کی شامل شو.

حضرت ابو ایوب رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره بی حده مینه درلوده او ابو ایوب انصاری هم رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ډیر زیات ګران ؤ او د هغه کور ئی خپل کور ګڼلو.

حضرت عبد الله بن عباس رضی الله

عنه فرمائی چی یوه ورځ حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه له خپل کور نه د جومات په لور روان ؤ، ډیره زیاته گرمی وه، په مخه ورته حضرت عمر رضی الله عنه ورغی، حضرت عمر رضی الله عنه تری پوښتنه وکړه:

یا ابوبکر! پدی گرمۍ کی چیری روان ئی؟

حضرت ابوبکر رضی الله عنه ورته ځواب ورکړ چی نور څه کوی خو ډیر زیات وږی شوی یم.

حضرت عمر رضی الله ورته وویل:

په الله می دی قسم وی چی زه هم د لوږی له وجی له کوره رابهر شوم. دواړو دا خبری کولی چی پدی وخت کی رسول الله صلی الله علیه وسلم تشریف راوړ او د هغوی نه ئی پوښتنه وکړه : پدی وخت کی تاسو دواړه څنگه راوتی یاست؟

هغوی ځواب ورکړ: یارسول الله (صلی الله علیه وسلم)! دواړه د ډیری لوږی له وجی بهر ته راووتو او د یوبل سره مو ملاقات وشو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

په هغه ذات می دی قسم وی چی زما روح ئی په اختیار کی دی ، زه هم د لوږی له وجی له کوره رابهر شوم.

بیا دری واړه د حضرت ابو ایوب انصاری د کور په لور روان شول.

حضرت ابو ایوب رضی الله عنه به هره ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره په کور کی د هغه د ډوډۍ برخه جدا ساتله، چی کله به هغه تشریف رانه وړ نو بیا به ئی په خپلو ماشومانو وخوړله.

کله چی هغوی د ابو ایوب رضی الله عنه د کور دروازی ته ورغلل نو ام ایوب ورته ښه راغلاست ووایه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم تری پوښتنه وکړه چی ابو ایوب رضی الله عنه چیری دی؟

پدغه وخت حضرت ابوایوب رضی الله عنه کورته نژدی په یو باغ کی په کار مصروف ؤ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم خبری ئی واوریدی نو فوراً ئی رامنډه کړه هغه ته ئی ښه راغلاست ووایه او بیا ئی له خرمانه یوه ډکه ټوکرۍ چی وچه او تازه خرما پکی وی د حضورصلی الله علیه وسلم او د هغه د یارانو مخکی کیښوده.

نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: دی تازه خرما ته څه ضرورت ؤ صرف دا وچی خرما کفایت کولو.

هغه ورته ځواب ورکړ: یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) !

ما ځکه دواړه ډوله خرما راوړه چی کومه ستاسو خوښه شی هغه به وخورئ.

او ستاسو د پاره می د ورغومی د حلالولو بندوبست هم کړی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: گوره چی شودی ورکونکی ورغومی حلال نه کړی.

حضرت ابو ایوب رضی الله عنه یو وړوکی ورغومی حلال کړ او میرمنی ته ئی وویل چی زر زر ډوډۍ پخه کړه او پخپله ئی نیمه غوښه په شوروا او نیمه ئی وچه سره کړه او بیا ئی د حضور صلی الله علیه وسلم او د هغه د ملگرو په وړاندی کیښوده.

رسول الله صلی الله علیه وسلم غوښه راواخستله او ځان ته ئی په ډوډۍ کیښوده او بیا ئی وفرمایل:

ابوایوب! دا زما لور فاطمی ته یوسه!

ځکه د څو ورځو راهیسی ئی داسی خوراك په نصیب شوی نه دی او بیا ټولو په جمع د ډوډۍ په خوراك شروع وکړه.

نبی کریم صلی الله علیه وسلم خپلی مخی ته د دی ډول نعمتونو په لیدو سره وفرمایل: غوښه، ډوډۍ، تازه او وچه میوه. او بیا ئی له مبارکو سترگو څخه اوښکی توی شوی او وئی فرمایل:

په الله می دی قسم وی دا هغه نعمتونه دی چی د قیامت په ورځ به ئی زمونږ نه پوښتنه کیږی.

نو کله چی تاسو ته داسی نعمتونه درورسیدل نو د خوراك نه مخکی بسم الله ووائی او کله چی مو وخوړله نو پدی الفاظو د الله تعالی شکر اداء کړئ:

«اَلحَمدُللهِ الَّذِی هُوَاَ شبَعَنَا وَ اَنعَمَ عَلَینَا فَاَ فضَلَ »

ټولی ستاینی الله لره ښائی چا چی مونږ ماړه کړو او په مونږ ئی انعام او فضل وکړ.

بیائی وفرمایل: تاسو سبا زما کور

ته راشئ.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارکو عاداتو څخه یو دا ؤ چې چا به ورسره نیکي وکړه، نو حضور صلی الله علیه وسلم به ئې ضرور بدله په ځای کوله.

خو حضرت ابو ایوب رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خبره پوره وانه وریده، نو حضرت عمر رضی الله عنه ورته وویل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي چې ته به سبا زما کورته راشې.

بله ورځ چې حضرت ابوایوب رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم کور ته تشریف یوړو نو حضور صلی الله علیه وسلم ورته یوه وینځه د تحفې په ډول ورکړه او ورته ئې وویل چې ددې به ته ډیر زیات خیال ساتې، ځکه دا ډیره نیکه او فرمانبرداره وینځه ده.

کله چې حضرت ابو ایوب رضی الله عنه کور ته تشریف راوړو نو ام ایوب ترې پوښتنه وکړه: دا څوک ده ؟

هغه وَرته وویل: دا رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته د تحفې په ډول راکړه او له دې سره ئې د نیک سلوک هدایت هم راته وفرمایه.

ام ایوب ورته وویل: څومره ښایسته تحفه، او د تحفې ورکوونکی څومره عظیم انسان دی.

بیا ئې وویل: مونږ به څه ډول نیک سلوک له دې سره وکړو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم وصیت په ځای کړی شو.

ابو ایوب رضی الله عنه ورته وفرمایل:

زما په نظر د رسول الله صلی الله علیه وسلم وصیت به هغه وخت په ځای کړی شو چې مونږ دا آزاده کړو .

هغې فوراً وویل: تا بالکل صحیح وویل.

تاته دې الله تعالی توفیق درکړي. او بیائې هغه آزاده کړه.

دا خو د حضرت ابو ایوب انصاری رضی الله عنه د امن په دوران کې د ژوند یوه برخه وه، د جنګ په زمانه کې د هغه ځنې کارنامې داسې په زړه پورې دي چې په لوستلو به ئې انسان حیران شي.

حضرت ابوایوب رضی الله عنه خپل ټول عمر د یو غازي مجاهد په څیر تیر کړ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارك دور نه د حضرت معاویه رضی الله عنه د اقتدار پورې ئې چې د اسلام د بقا له پاره څومره جګړې شوې په اکثرو کې ئې حضرت ابو ایوب انصاری رضی الله عنه برخه اخستې وه.

د هغه وروستۍ جګړه هغه وه په کومه کې چې دحضرت معاویه رضی الله عنه د ځوی په قیادت یو لښکر «قسطنطنیې» ته واستول شو، پدغه دوران کې د ابو ایوب رضی الله عنه عمر اتیاؤ کلونو ته رسیده، مګر د دې باوجود ئې په ډیره مینه او شوق د اسلام له لښکرو سره ځان ملګری کړ او د الله تعالی د رضا د حصول پخاطر ئې له هر چا نه وړاندې ځان دښمن ته رساؤ. خو په لار کې ورته ناروغې پیښه شوه او دومره شدیده شوه چې نور ئې په وجود کې د جنګ کولو توان پاتې نه شو.

د جنګ لوی قوماندان ئې پوښتنې له راغی او ورته ئې وویل:

ای غازي مجاهده ! که څه خواهش دې په زړه کې وي نو وفرمایه!

حضرت ابو ایوب رضی الله عنه ورته وفرمایل:

زما له طرفه د اسلام ټولو مجاهدینو ته ووایه چې د ابو ایوب دا وصیت دی چې د دښمن په خاوره ډیر په میرانه او سرخندنه مخ په وړاندې ورشئ او ځانونه خپل آخرنی هدف ته ورسوئ او زما مړی له ځان سره واخلئ او د «قسطظنیې» د دیوال په خوا کې مې دې خاورې ته وسپاري. دا ئې وویل او له دې فاني دنیا رخصت شو.

د اسلام مجاهدینو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دغه جلیل القدر صحابي رضی الله عنه وصیت په ځای کړ او په دښمن باندې ئې د پرله پسې حملو نه وروسته په داسې حال کې چې د حضرت ابوایوب رضی الله عنه مبارك جسد هم ورسره ؤ، ځانونه ئې «قسطنطنیې» ته ورسول او د فتح نه وروسته ئې د هغه مبارك جسد په ډیر لوی اعزاز او اکرام د قسطظنیې د دیوال په خوا کې خاورو ته وسپاره.

(رضی الله عنه)

(په تیر پسي)

مسلمان ملت او د یهودیت دام

کچلوال

أمریکا د یهودیت تر اغیزي لاندي.

امریکا چی د پخوانی شوروی اتحاد تر ماتیدو وروسته یی د یو یی مقابلی ځبر ځواك ځای نیولی دی او یو خاص مغروریت لري. په دی هر ځوك بنه پوهیږی چی امریکا پخپله هیڅ نه ده مگر هر څه چي دی دا د «یهودیت» هغه محتاطانه او حساسی هلی ځلی دی چي په نړۍ کی یی د خپل هدف لپاره ډیری پخوا پلی کړی وی او نن یی امریکا د لوی کبر او غرور په نیلی سوره کړی ده. یهودیت اوس ټوله امریکا پخپل مکمل تسلط کی اخستی ده او پر ټولو دوایرو یی د کنترول عبور حاصل دی. امریکا تر کومی اندازی د یهودیت تر تاثیر لاندی ده؟ ددی موضوع د روښانه کولو لپاره د یو امریکایی مصنف چی (LenniBrenner) نومیزی پخپل کتاب کی چی ۱۹۸۶میلادي کی چاپ شوی دی استفاده کوو. نوموړی پخپل کتاب کی لیکی:

په امریکا کی د یهودیانو د نفوس اندازه زیات نه زیات (۲،٥٤) فیصده ده، ممکن یهودیان اوس له دی شمیری څخه زیات وی ځکه دغه کتاب د ۱۹۸٤میلادي کال احصایه ذکر کړی ده. د چراغ راه مجلی د ۱۹٦۸میلادي د جون د میاشتی گڼی دغه احصایه ٪۳ ښودلی ده. په هر صورت په ظاهره د یهودیانو د نفوس اندازه په فیصدی حساب ډیره کمه ښودل کیږی مگر دغه احصایي رسماً ډیری کمی خو په حقیقت کی ډیری لوړی دی.

د یهودیانو دغه شمیره چی په امریکا کی ورته په اصطلاح د اقلیت په نظر کتل کیږی، په مناتین (Manhatten) او بروکلین (Brooklyn) کی ٪۱۹ ده، په نیویارك (۱۱۳۳۱۰۰) یهودیان ژوند کوی او زیاته اندازه یی په ناسان (Nassan) او شاوخوا سیمو کی اوسیږی چی فیصدی یی (۲۳) ته رسیږی. د یوی غیر محتاطی اندازی مطابق ٪۱۰ یی په سانفرانسسکوکی آباد دی، له دی پرته (Philadelphen) یی په (۲۹٥۰۰۰) او (۲٥۳۰۰۰) یی په شیکاگو کی میشته دي. د حیرانۍ خبره خو ځکه ده چی په فیصدي حساب د یهودیانو احصایه ډیره کمه ښودل کیږی مگر په انتخاباتو کی چی دا یوه تعلیم یافته طبقه خلك دی ٪۹۲ رایی استعمالوی او نوری ټولی مذهبي او غیر مذهبي طبقي یی د ٪٥٤ رایو مستحق دی.

په نیویارك کی چی یهودی نفوس یی (٪۱۰.٦) تاکل شوی دی په انتخاباتو کی یی فیصدی تناسب له ۱٦-٪۲۰ پوری رسیږی او یوه بله حیرانوونکی مشاهده دا وه چی د ۱۹۸٤میلادي په انتخاباتو کی په نیویارك کی دا شمیره (٪٥۰) ته لوړه شوه.

د امریکا په سیاسی نمایندگیو کی هم د یهودیانو تناسب یو حیرت انگیز پرمختگ کړی. د ۱۹۸٤میلادي په جمهوری کنوینشن کی د یهودی غړو شمیره (٪۲۰) وه مگر په ډیموکراتیك کانفیب کی (٪۹۰) ته ورسیده. په ټوله

امریکا کی یهودیان (٪٥٤.٢) دي خو د ۱۹۸٥میلادي کال د سنا د سل کسیز مجلس څخه یی اته یهودیان وو چی د څلورو تعلق د جمهوری او د څلورو یی د دیموکراتیك گوند سره ؤ.

(Jews in America to day P.No.119-121)

له پورتنی مطلب څخه دا ډاگیزه کیږی چی د امریکا په سیاست کی د یهودیانو تکثر تر کافی حده پوری پر مخ تللی دی. اوس دغه صهیونی ماشین لگیا دی او دا پروپاگنډ کوي چی اوس امریکا ته پرته د یهودیانو له حمایت کومه بله لار نشته. د یهودیانو د مخ په زیاتیدونکی سیاسي تکثر وجه ده چی د عرب-اسرائیل د تنازعي په باب یی د امریکا سیاست د اسرائیلو لورته اړولی دی.

(Willam A Eddy) لیکی:

په ۱۹٤٦ میلادی کال د امریکا یو هیئت د فسلطین دوره وکړه او له راستنیدو وروسته یی خپل حکومت ته دا رپورټ وړاندی کر چی په منځنی ختیځ کی د امریکا لپاره حالات خرابیدونکی دی. د امریکا جمهور رئیس «ټرومین» ورته په ځواب کی وویل: «زه ستاسی په دی خبره افسوس کوم مگر زه د هغو لکونو انسانانو په وړاندی ځواب ورکونکی یم څوك چی د صهیونیت د کامیابۍ لپاره نا ارامه دی او دا ظاهره ده چي عرب ووټران زمونږ په فهرست کی شامل نه دی».

(Meets Ibn Saud P.37)

دامریکا ددفاع وزیر «فارستال» په صفا الفاظو په ټرومین دا تور لگولی ؤ چی د فلسطین دداخلی سیاست او څو محدودو مفاداتو نگرانی د ټرومین د پالیسي بنیادی ټکی دی.

(Forrestal.Diaries P.364)

دا د یهودیانو سیاسی پرمختگ دی چی امریکا یی په کومه اندازه تر خپلی اغیزی لاندی راوستی ده. له دی سربیره د امریکا نوری چاری هم دیهودیانو تر پوره تسلط لاندی ترسره کیږی. د امریکا دځوارلس پنځلس کروړه خلکو له جملی څخه یوازی شپږ میلونه یی هغه اقلیت دی چی نن یی ددی هیواد ټولی سیاسی او اجتماعي واگی پخپل لاس کی نیولی دی. دغه اقلیت ته طارق اسماعیل ساگر داسی کتنه کړی ده:

د امریکا د اکثریت ٪۱۹ خلك داسی دی چی په کال کی لس زره ډالر لاس ته راوړی مگر د یهودیانو تعداد (٪۳۳) دی چی په تعلیمي ادارو کی د نورو خلکو په پرتله دری چنده زیاتوالی لری. سیاست، روغتیا، قانون، موسیقی، ساینس، ادب، مصوری، لطیفه فنون او لنډه دا چی په هر میدان کی په ځانگری توگه ښکاره دی، د ستری محکمی ځینی قاضیان، ځینی گورنران او سناتوران یی هم یهودیان دی او دغه یهودیان اکثره هغه اشخاص دی چی د نوبل جایزی هم ورکړی شوی دی. (صیهونیت اور عالم اسلام - ۱۱۹).

نن د امریکا متحده ایالات د یهودیت ددغه پر اصراره تکثر او په حکومتی سطحه دومره فعالیت کول څه نوی خبره نه ده بلکی د امریکا ځینو سیاسي پوهانو له ډیر پخوا نه دغه فعالیتونه تر نظر لاندی نیولی او دا پیش بینی یی امریکایی اولس ته ورکړی چی یهودیت ددوی لپاره د فتنی منبع ده.

په برتانیا دیهودیت اغیزې:

اوس دنړۍ هغه لوی استعماری ځواك برتانیا ته چی یو وخت یی په امپراطورۍ کی لمر نه ډوبیده او ځان ته دسیاسی میدان استاد وایی حالاتو ته یوه لنډه کتنه کوو:

انگریز پخپل ذات کی یو ډیر هوښیار او عقل مند قوم دی مگر یهودیانو دمنځنی ختیځ په طولانی جگړو کی دغه هوښیار او عقل مند قوم د لاس پاك په څیر استعمال کړ. یهودیانو له اول وخت څخه ځانته دا حقیقت معلوم کړی دی چی تر هغی پوری په نړۍ تسلط نشی کولی تر څو د ځینو موثرو او غني هیوادونو مرسته او حمایت ځانته حاصل نه کړی، پدی باب یی له ډیرو هڅو وروسته لومړی هیواد برتانیا وه چی د ازمیښت په شیشه کی یی بنده کړه.

د ۱۹۱۷ میلادي کال د نومبر په دوهمه نیټه د برتانیی د بهرنیو چارو وزیر «ارت جمیز بالفور» د اسرائیلو ناپاك وجود عملاً په رسمیت و پیژاند، ددی اعلان خبر د لومړی ځل لپاره د برتانیی په مطبوعاتو کی په ۱۹۱۷

میلادي کال د نومبر په اتمه نیټه خور شو، د ډیلی ایکسپریس ورځپاڼې، «دیهودیانو مملکت» تر عنوان لاندې، د ټایم او مارننګ پوسټ ورځپاڼو «فلسطین د یهودیانو» تر عنوانونو لاندې اوږده اوږده خبرونه خواره کړل او اېزرور د خبر سره سره پدې اړوند اوږدې مقالې هم نشر کړې چې په نتیجه کې یې دټولې نړۍ دیهودیانو په زړونو کې د خوشحالۍ او همیشنۍ بقا احساسات راوپارول. د امریکا او روسیې یهودیانو د برتانیې پدې ډول حرکت د قدردانۍ او مننې څرګندونې وکړې او په دې اړوند یې ځینې قراردادونه هم پاس کړل. د برتانیې د بهرنیو چارو وزیر په ۱۹۱۷ میلادي کال د نومبر په دوهمه د انګلستان یو مشهور یهودي ته یو لیک استولی ؤ، لازمه ده چې متن یې درنو لوستونکو ته وړاندې کړو:

ډیر لارډو تشیلیډ!

زه د زیاتې خوشحالۍ سره د خپل عالیشان حکومت له طرفه دغه اعلان ستاسې خدمت ته رسول غواړم کوم چې د صیهونستي یهودیانو د احساساتو او امیدونو د همدردۍ ښکارندوی دی، مونږ پخپله کابینه کې دغه اعلان ته توثیق هم ورکړی دی. د برتانیې حکومت په فلسطین کې د یهودیانو د حق پلوی کوي او ددې مقصد لپاره هر ډول هلې ځلې کوي، البته کوښښ کیږي چې داسې* اقدام ونشي چې په فلسطین کې د غیر یهودو هستوګنو په ملکي او مذهبي حقوقو زیاتې وشي چې ددې له امله په کوم بل هیواد کې د یهودو هستوګنو په حقوقو او سیاسي حیثیت اغیزه وکړي. که تاسې په صیهوني فدراسیون کې زمونږ ددې اعلان یادونه وکړئ زه به ستاسې ډیر ممنون یم.

ستاسې مخلص ارت جیمز بالفور

(ماهنامه چراغ راه-کراچی ۱۹۶۸)

د برتانیې حکومت نه یوازې دا چې د یهودیانو دخوشحالولو لپاره یې اعلان وکړ بلکې له دې وروسته په ۱۹۲۰میلادي کې یې رسماً د قومونو په مجلس کې دیهودي ریاست دقایمولو شرایط وړاندې کړل او د قومي مجلس په کونسل یې د ۱۹۲۳ کال د جولایې په ۲٤ نیټه په لندن کې په معمولي ترجیحاتو و منله او ددې کال د ډسمبر په ۲۳ مهٔ ورته عملي جامه واغوستلې شوه.

.د قومونو د مجلس د قانون د ۲۲ مادې لاندې لیکل شوي دي: «څرنګه چې دغه اقلیت اوس پخپلو پښو د ودریدو توان نه لري نو ددې لپاره یو داسې حکومتي ماشین په کار دی چې ددغه (یهودو) د اقلیت مرستندویه شي ځکه ددوی د خوشحالۍ لپاره کوښش کول زمونږ مقدسه مذهبي فریضه ده». دغه قانون چې یو طرفته د ناپیلتوب او د بشري حقوقو د اعاده کولو چغې وهي او بل طرفته یو ناروا او غیر انساني سلوک خپل مذهبي او تهذیبي فرض ګڼي او په ډیره سپین سترګۍ سره د فلسطین د هستوګنو خلکو د خوښې خلاف یو پردي قوم ته د فلسطین په خاوره کې د تسلط زمینه مساعدوي.

د ۱۹۱٤ میلادي کال په اوږدو کې د فلسطین دخاورې ۱۷۷ مربع میله برخه د یهودیانو په تسلط کې وه، په ۱۹۳۶میلادي کې د یهودیانو په غاصبانه پنجو کې ۵٤۵۰ مربع میله خاوره ورغلې وه او دیهودیانو ددغه پرمختګ اصلي او بنیادي علت د برتانیې د حکومت حمایت او امداد ؤ چې د فلسطین خاوره یې د یهودیانو په لاس کې ورکړه.

اوس د برتانوي حکومت د یهودیانو د حمایت هغه اړخ ته ګورو چې یهودیان یې له نیست څخه هست کړل او اوس یې په مقابل کې د یهودیانو عکس العمل په کومه پیمانه دی؟

د برتانیې حکومت چې د یهودیانو حمایت یې خپله مقدسه مذهبي فریضه ګڼله او دفلسطین په خاوره یې ورته د اقتدار ټادر خور کړی ؤ. یو یهودي لیډر ډاکتر «ویژمین» په صفا ټکو کې دا اعلان وکړ چې: مونږ له خپلو دوستانو سره خپلې اړیکې نورې هم مظبوطې کړې دي، هغوی مونږ ته ویلي دي چې برتانوي اقتدار له فلسطین څخه ختمیدونکی دی او په ځای به یې ډیر زر یو یهودي ریاست قیام ومومي او ددې یهودي ریاست د په رسمیت پیژندنې لپاره په نړیواله سطحه کوښښونه روان دي.

(چراغ راه-کراچی جون ۱۹۶۸)

(ادامه لري)

د اسلام ستر فاتح حضرت عمر فاروق

رضي الله عنه

بشیر الله «ظفر»

دعمر فاروق رضي الله عنه شجاعت او خلافت:

د اسلام دا ستر صحابي چی د شجاعت او بهادریٔ په میدان کی یي ساری نه درلود د وخت ټول کفار او مشرکین یی له نومه ویریدل. همدا رنګه ویل کیږی چی عمر رضي الله عنه به په کومه لاره روان ؤ، شیطان به په هغه لاره د تلو جرئت نه شو کولی. هر وخت به توره په لاس ګرځیدهٔ او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دحکم منتظر به ؤ.

مخکی له دی چی د عمر رضي الله عنه دخلافت په باره کی څه ولیکو، ضروری ده چي د «خلافت» په موضوع لږه رڼا واچوو:

د مسلمانانو په ټولنه کی د خلیفه د نیولو په مسئله د ټول امت مسلمه دعلماؤ اتفاق دی او په دی خبره هم اتفاق دی چی خلیفه نیول د مسلمانانو لپاره دواجباتو څخه دی، په دي مسئله باندي پرته له معتزله ؤ او خوارجو نور چا اختلاف نه دی کړی. همدا رنګه دټول امت مسلمه په دي خبره هم اتفاق دی چی په یو وخت کی به د مسلمانانو په ټولنه کی دوه خلیفه ګان نه وی ځکه چی دوه خلیفه ګان د فساداتو درامنځته کیدو سبب ګرځی او یو لږ جانبي عوارض لکه حسد پیدا کیدل، باغیانو ته موقع په لاس ورتلل او د اسلام ددښمنانو د خوشحالو علت رامنځته کوی او د قوم د ټوټه ټوټه کیدو او په مسلمان ملت کی د تفرقي امکانات برابر وی. زمونږ په خیال د موجوده افغانستان اوسنی زړه دردوونکی مسئله د یو مشر او یو خلیفه د فقدان ښکاره سبب دی. الله تعالی دی وکړی چی د افغاني مسلمانانو تر منځ د اختلاف فاصلي ورکی شی او د یو مسلمان مشر په منځته راتلو دا مظلوم او مسلمان ملت له روان مشکل څخه نجات ومومي! امین.

اوس خپلی اصلی موضوع ته راځو چی خلیفه باید د مسلمانانو په ټولنه کی یو وی نو باید څوک وی؟ د پخوا نه پدی اړوند دری مذاهب او نظرونه موجود دی.

اول مذهب او نظر دادی چي خلیفه باید دمسلمانانو په مشوره منتخب شي مګر دا یو شرط به پکی وی چي هغه شخص به انتخابولی شی چی په هغه کی داسلام ددین دساتلو او ترویج صلاحیت موجود وی. او دغه شخص که

د هر قوم سره تعلق لري يعني كه هغه قريش وي او كه غير قريش. دا رايه د انصارو صحابه كرامو هم وه. د نبي كريم صلى الله عليه وسلم له وفات وروسته د مدينى منوري د انصارو رايه دا وه چي بايد دسعد بن عباده رضي الله عنه سره بيعت وكړل شي چي دا د خزرج دقبيلي يو سردار ؤ. دمعتزله ؤ او خوارجو هم دا مسلك او نظر ؤ.

دوهم نظر او مذهب چي دمهاجرو صحابه كرامو ؤ، هغه دا چي خليفه به د خلكو د رايو په نتيجه جوړيږي مگر شرط به پكي دا وي چي هغه به دقريشو له قوم څخه وي. دا نظر دعامو اهل سنتو علماء كرامو هم دى. دوى د نبي كريم صلى الله عليه وسلم دا حديث دليل گرځوي: «الأئمة من قريش» يعنى اميران به د قريشو نه وي.

دريم مذهب او نظر دا دى چي هغه څوك خليفه جوړيدى شي چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره كورنى تړون لري يعنى د رسول الله صلى الله عليه وسلم دكورنۍ شخص به امير وي او بل څوك ددى حق نلري. لومړى شخص چي د خلافت لايق او مستحق دى هغه حضرت علي رضي الله عنه دى. دا نظر او رايه په وراندى وختونو كى دبني هاشمو وه او له دى وروسته شيعه گانو خپله كړه.

په پورتنيو دريو نظريو كى غوره او مناسب نظر دوهم نظر دى د مهاجرينو صحابه كرامو او اهل سنتو رايه ده. كله چي حضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه خليفه شو، دټولو صحابه كرامو ده په خلافت اتفاق راغي او له دى وروسته دنظر دغه سلسله جاري وه.

د خليفه شروط:

په ځينو كتابونو كى دخليفه د جوړيدو شرايط څلور ذكر شوى او په ځينو كى دولس، په هر صورت ځينو كتابونو چاڼ كړى او يولس يى ذكر كړى دى چي په لاندى ډول دى:

١- قريشي به وي.

٢- علم او پوهه به لرى څكه چي علم د الله تعالى د احكامو يو نافذونكى عامل دى.

٣- د عدل او انصاف څښتن به وي چي د خپل ځان او رعيت سره انصاف وكړي.

٤- د قضئ صلاحيت به لرى. يعنى فيصله به كولى شي.

٥- دجنگ په امورو به پوهيږى يعنى مجاهد او جنگيالى به وي.

٦- پاك مسلمان به وي.

٧- حر يعنى اصيل به وي، غلام او مريي به نه وي.

٨- سړى به وي، ښځه به نه وي.

٩- بالغ به وي.

١٠- شجاع او بهادر به وي چي كفار ترى ويره محسوسوى.

١١- سليم الأعضاء به وي يعنى په څلور څانگه به روغ رمټ وي چي گونگ، ړوند، كوڼ او شل نه وي.

د امير اطاعت: الله تعالى په قرآن پاك كى فرمايي: «يا أيهاالذين أمنوا أطيعوا الله و أطيعوا الرسول و أولي الأمر منكم» (النساء-٥٩).

ترجمه: اي مؤمنانو! تاسي د الله تعالى او د پيغمبر صلى الله عليه وسلم او امير اطاعت وكړئ. الله تعالى په دي ايت كريمه كى د امير تابعدارى د الله تعالى او رسول الله صلى الله عليه وسلم په تابعدارئ كى يو ځاى ذكر

کړي ده. په دې کې د مسلمانانو لپاره نصیحت دی. که چیرې امیر د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم د احکامو برابر چلیږي اطاعت یې لازم دی او د خلاف چلند په صورت کې نه یوازې دا چې اطاعت یې نفي کیږي بلکې خلاف قیام یې لازمیږي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: تاسې د امیر اطاعت وکړئ اګر که دغه امیر یو حبشي غلام وي او سر یې د وچکې ددانې په شان وي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دي: چا چې زما تابعداري وکړه، په تحقیق سره د الله تعالی تابعداري یې وکړه او چا چې زما مخالفت وکړ، په تحقیق سره د الله تعالی مخالفت یې وکړ.او چاچې د امیر تابعداري وکړه، په تحقیق سره ده زما تابعداري وکړه او چا چې د امیر نافرماني وکړه، په تحقیق سره ده زما نافرماني وکړه.

دحضرت عمر رضي الله عنه د خلافت دوره:

د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه د خلافت موده دوه کاله شپږ میاشتې او څلور شپې ده. کله چې د حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه د وفات ناروغي اوږده شوه، محدثین دده په باب داسې لیکي:

ابن سعد د ابی سلمه بن عبدالرحمن څخه نقلوي وایي: چې ابوبکر صدیق رضي الله عنه عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه راوغوښت او ورته یې وویل چې ماته د عمر رضي الله عنه په باره کې څه معلومات راکړه! عبدالرحمن بن عوف ورته په ځواب کې وویل چې تاسې عمر رضي الله عنه زما نه ښه پیژنئ او د هغه په حال احوال زما نه ښه خبرياست، زه به دومره ووایم چې عمر رضي الله عنه ډیر غوره انسان دی.

له دې وروسته یې حضرت عثمان رضي الله عنه هم ددې خبرې لپاره راوغوښت، هغه هم دغه مشوره ورکړه. وروسته تر دې نور صحابه کرام خبر شو او په دې باره کې یې د ابو بکر صدیق رضي الله عنه سره ملاقات وکړ، په دوی کې یوکس ابو بکر صدیق رضي الله عنه ته دعمر رضي الله عنه د سختوالي په باره کې خبره وکړه. ابو بکر صدیق رضي الله عنه ورته وویل چې زه پدې وخت کې بل مناسب او غوره نه وینم. نو عثمان رضي الله عنه ته یې دخپل وصیت د لیکلو حکم وکړ. چې ما ابو بکر د قحافه ځوی له خپل ژوند څخه وروسته عمر بن خطاب پر تاسو باندې خلیفه کړ، تاسو دده د حکم تابعداري وکړئ. له دې وروسته یې په لیك د خپل مهر د لګولو امر وکړ او بې هوشه شو. کله چې بیرته په هوش کې راغي له عثمان رضي الله عنه څخه یې پوښتنه وکړه چې د چا نوم دې په خط کې ولیکه؟ عثمان رضي الله عنه ورته وویل: د عمر رضي الله عنه.ابوبکر صدیق رضي الله عنه ورته وویل الله تعالی دې په تا رحم وکړي! او که تا خپل نوم هم لیکلی وی ته هم ددې لایق یې.

حضرت عثمان رضي الله عنه بیا نورو صحابه کرامو ته وویل چې ایا تاسو ددې شخص سره بیعت کوئ د کوم نوم چې په دې خط کې لیکل شوی دي؟ ټولو د «هو!» ځواب ورکړ او بیعت یې ورسره وکړ.

(ادامه لری)

ستاسو پوښتنې د قرآن او سنتو په رڼا کې

د پېښور د امام بخاري پوهنتون څخه اصحاب الله «اواب» ورور له ډېرو سلامونو او نیکو دعاګانو وروسته چې ددعوت مجلې د اداري په نوم يې راستولې، پوښتنه کوي چې: تقليد جايز دی او که نه؟

دپېښور د امام بخاري پوهنتون اصحاب الله «اواب» وروره! .

ستاسو د سلامونو او نيکو هيلو څخه ډك ليك زمونږ تر ميزه راورسيد، سلامونو ته مو وعليك وايو او ستاسو په نيکو دعاګانو ستاسو په شمول امين وايو او ډېره مننه کوو.

وروره! ستاسو راليږلي پوښتنې ته مو څه لږ ډېر ځواب پيدا کړيدی، هيله ده چې مشکل مو حل شي! دا ښکاره خبره ده چې ټولو مسلمانانو ته د الله تعالی او د هغه د رسول (صلی الله عليه وسلم) داتباع حکم ورکړی شوی دی او له تقليد څخه منعه شوي دي. الله تعالی په قرآن پاك کې فرمايي:

«اتبعوا ما أنزل اليكم من ربكم ولا تتبعوا من دونه اولياء قليلاً ما تذکرون» (الأعراف-۳)

ترجمه: تابعداري وکړئ د هغه څه چې تاسې ته د الله تعالی له طرفه نازل شوي دي او پرته له الله تعالی څخه د بل چا تابعداري مه کوئ، لږ شان پند واخلئ تاسو.

قرآن پاك بل ځای فرمايي:

«اطيعوا الله و اطيعوا الرسول» (النور-٥٤)

ترجمه: ووايه (اي محمده دوی ته) تابعداري وکړئ د الله او د الله د رسول. اوسنی مروجه تقليد بدعت دي، په خير القرون کې ددې هيڅ ثبوت وجود نلري، دتقليد سلسله څلور پيړۍ وروسته منځته راغلې، پدې هکله شاه ولی الله رحمه الله ليکلي دي چې د کوم امام يا مذهب تقليد نه يوازې دا چې جايز نه دی بلکې حرام دی.

علامه شرينلالی په عقد الفريد کې ليکلي: انسان ته د کوم فقهي مذهب تقليد په ځان باندې لازمول او اختيارول ضروري نه دي. په «طوالع الأنوار» کي ليکل شوي چې: د کوم ځانګړي امام او مجتهد دتقليد د وجوب په هکله هيڅ کوم شرعي او عقلي دليل وجود نه لري. لکه څرنګه چې علامه ابن الهمام حنفي پخپل کتاب فتح القدير او تحرير الأصول کې ليکلي، همدا رنګه محقق عضدالدين شافعي او شيخ ابن عبدالسلام مالکي په «مختصر منتهی الأصول» کې ددې خبرې د عدم وجوب په هکله صراحت کړې دي. علامه ابن امير الحاج هم په «التقرير شرح التحرير» کې دا ذکر کړې دي چې د تيرو پيړيو علماؤ پدې خبره اجماع او اتفاق ؤ چې د هيڅ يو حاکم او مفتي لپاره دا حلال نه دي چې د کوم واحد شخص تقليد وکړي او ددغه واحد شخص يعني امام او مجتهد د قول مطابق فيصله او فتوی ورکړي. شيخ محي الدين ابن عربي رحمه-

الله په «فتوحات مکه» کی لیکی:

د کوم صاحب یا امام دقول په وجه د قرآن پاك د کوم ایت او یا صحیح حدیث پریښودل ناجایز دی او که څوك داسی وکړی هغه په تمامه معنی سره گمراه دی او د الله تعالی له دین څخه وتلی دی. علامه عبدالوهاب شعراني په «الیواقیت والجواهر» کی لیکی:

چی امام حنبل رحمه الله فرمایی: د الله تعالی او رسول الله (صلی الله علیه وسلم» له کلام پرته دبل هیچا قول او فعل د اعتبار جوګه نه دی، که هغه زه یم، که امام مالك رحمه الله دی، که زاعي رحمه الله دی، که امام نخعي رحمه الله دي او که بل څوك، ددوی تقلید هیڅکله مه کوئ، له هغه ځایه احکام واخلئ له کومه ځایه چی دوی احکام اخستي دی، یعنی د کتاب الله او سنت څخه. امام ابو حنیفه رحمه الله فرمایي:

زما قول د حدیث په موندلو پریږدئ. (درالمختار-میزان الشعراني)

امام شافعي رحمه الله فرمایی: کله چی تاسو صحیح حدیث ومومئ، دغه زما مذهب دی. (شرح صحیح مسلم لکنوی والشعراني)

امام مالك رحمه الله فرمایي: زه بشر (انسان) یم خطا رانه کیږي او صحیح خبري هم کوم، نو زما په رایه غور وکړئ!

که زما خبری د کتاب او سنت برابر وي وایی خلئ او که د کتاب او سنت خلاف وی پری یی ږدئ. (الجامع لابن عبدالبر)

امام مالك رحمه الله زیاتوی چی: له رسول الله څخه وروسته هیڅوك داسی نشته چی د هغه قول واخستل شی مګر رسول الله صلی الله علیه وسلم دي.

د تقلید په خلاف او مذمت کی دا وو د څلور امامانو اقوال. اوس تقلید کول ددغو څلورو واړو امامانو د مخالفت مترادف دی ځکه نو ثابته شوه چی تقلید د أئمه اربعه ؤ د خوښی خلاف عمل دی. نو ټولو مسلمانانو ته پکار دی چي پرته له تعصب تقلید پریږدی او د قرآن او سنتو پیروی او اتباع وکړي.

معذرت

قسمت دوم راپور تاژ «هجرت افغانها و تاثیرات آن بر فرهنگ و ثقافت صوبه سرحد» در شماره (٤١) مجله دعوت به نشر رسیده است و قسمت اول آن در جریده فتح نشر گردیده است، از جریده فتح ذکر به عمل نه آمده، امید است پوزش ما را بپـــذیرید.

(اداره)

د ننګرهار ولایت د طالبانو د تنظیم سلفیه نمایندګی ددعوت کارونه چټك کړی دی

د تنظیم طلبه سلفیه چي د جماعت الدعوة په چوکاټ کی فعالیت کوی او مرکزی دفتر ئی د کونړونو په ولایت کي دی په ننګرهار کی یي هم نمایندګی رسماً پرانستل شوی او په کار ئی پیل کړی دی.

د ننګرهار د تنظیم طلبه سلفیه د نمایندګۍ مشر لطف الله مسلم څخه چی کله ددی نمایندګۍ په حواله د تشکیلاتی او دعوتي چلولو په حقله پوښتنه وشوه په جواب کی یی ووئیل دغه نمایندګی چی د روان کال د اسد په میاشتی کی جوړه شوه چي زه ئي د یوي غونډی په ترڅ کی د مشر په حیث، محترم محمد حسن د مرستیال، محترم عبدالله باتور د فرهنګی چارو د مسؤل، محترم عبدالرقیب د لیسو او مدرسو مسؤل، محترم محمد مصطفی د پوهنتون او محترم سید محمد د پیښور د مسؤل، په حیث و ټاکل شول.

دغه راز مولوی نیك محمد، محترم عبدالکریم، محترم رفیع الدین او محترم اسماعیل د شورا د غړو په حیث په کار پیل کړی دی.

ده ووئیل د تنظیم طلبه سلفیه ننګرهار د وخت د تقاضاوو سره سم غونډی جوړوی او د اسلامي معاشری د اصلاح او قرآن او سنت ته ددعوت ځانګړي پروګرامونه ئی ورته جوړ کړی دی.

ده زیاته کړه تنظیم د ټاکلی لایحي له مخی په دی وروستیو وختو کی خپل فعالیتونه چټك کړی دی او چارو ته ئی عملی بڼه ورکړی ده.دا وخت د ننګرهار د ولایت په زیاتره ولسوالیو کی ددی نماینده ګۍ لخوا حلقي جوړی شوي دی او ددی حلقو د چلولو او نظارت د پاره ئی د طالبانو د ډلی نه ناظمین ټاکلی دی تر څو وخت په وخت ورته د رهنمائی تر څنګ ددعوت چلولو مبادی هم ورزده کړی.

لطف الله مسلم ووېل چي د ننګرهار ولایت د تنظیم طلبه سلفیه د نمایندګۍ کرنلاره دجماعت الدعوت الی القرآن والسنة د امیر شیخ سمیع الله نجیبي د نظره تیره کړی شوی ده او د هغوی منظوری ئی حاصله کړی ده.

ده ددی تنظیم د اهدافو په ارتباط د یو سوال په جواب کی ووئیل زمونږ هدف یوازی او یوازی د الله جل جلاله د رضا د حاصلولو، قرآن او سنت ته د مسلمانانو د راجلبولو د پاره وقف شوی دی او د هر دول لسانی، قومي، او منطقوی ملاحظاتو نه مبرا دی.

ده زیاته کړه اوس ددی نمایندګۍ غړی د ننګرهار په ټولو تعلیمي ادارو کی ددعوت مشخصي دندی په مخ بیائی او مینه والو ته ددینی کتابونو د ویشلو د پاره ئی یو ځانګړی پلان هم تصویب کړی دی او د هری ولسوالۍ حلقی ته خپل سهم لیږل کیږی.

ده ووئیل چي د ننګرهار طلبه سلفیه په نمایندګۍ او د ولسوالیو په جوړو شوو حلقو کی میاشت په میاشت غونډی جوړیږی او ددعوت په کار کی د راتلونکی د پاره دفعالیت او ستونزو د لری کولو د پاره تجویزونه نیسي.

لطف الله مسلم ووئیل څرنګه چی زمونږ اهداف د توحید د عقیدی نه سرچینه اخلی ځکه نو زمونږ ددعوت چلولو پروګرامونه په ښه سره په مخ ځی او په دی برخه کی څه خاص مشکلات نشته خو یوازی د فنډ نشتوالی کله کله زمونږ د فعالیت په مخ کی خنډ کیږی.

ده ووېل چی زمونږ د تنظیم غړی قرآن او سنت ته ددعوت د چلولو سره سره په هیواد کی داوسنی سیاسی جنګی بحران د ختمولو او د یو سالم او سوچه اسلامي حکومت د جوړولو د پاره چی د جماعت الدعوت د عقیدی او منشور اساسی ټکی دی د سولی او جوړ جاړی د پاره هم د خپل توان په اندازه په کار لګیا دی.

تعزيتي پيغامونه

مرحوم ميا فضل حق:

په ډېره خواشينۍ سره مو خبر واخيست چې د پاکستان د مرکزي جمعيت اهلحديث اعلى ناظم محترم الحاج ميا فضل حق د روان ميلادي کال د جنورۍ د مياشتې په دولسمه نېټه په حق ورسيد. (اناالله و اناالیه راجعون)

د محترم الحاج ميا فضل حق مرحوم مړينه يوازې د پاکستان د اهل حديثو لپاره نه بلکې په نړېواله سطحه د سلف صالحينو په صف کې يوه لويه نيمګړتيا ګڼل کېږي..

د افغانستان د جماعة الدعوة امير شيخ سميع الله «نجيبي»، د خيريه کميټې رئيس حاجي ولي الله «غلام» او د دعوت مجلې کار کوونکي د ميا صاحب په مړينه د ژور غم او خفګان څرګندونه کړې او له پاك رب العزت څخه غواړي چې الله تعالى دې مرحوم ته د خپل رحمت په سيوري ځاى ورکړي او غم ځپلي کورنۍ ته دې الله تعالى د جميل صبر توفيق ورپه برخه کړي. (امين)

مرحوم بديع الدين شاه:

د ډېر خفګان او درد وخت ؤ چې د روان کال د جنورۍ د مياشتې په نهمه نېټه مو د جيدعالم، محقق او محدث شيخ بديع الدين شاه صاحب د مرګ خبر واورېد. (انا لله وانا اليه راجعون). د افغانستان د جماعة الدعوة الى القران والسنة اميرشيخ سميع الله «نجيبي»، د خيريه کميټې رئيس حاجي ولي الله «غلام» او د دعوت مجلې ادارې ئې په مړينه د درد او خفګان څرګندونه کړې، الله تعالى دې مرحوم ته په جنت الفردوس کې اعلى مقام نصيب کړي او غم ځپلې کورنۍ ته ئې د جميل صبر او جزيل اجر غوښتونکي يو!

مرحوم سلطان محمود:

همدارنګه يو بل بد خبر چې د شعبان د مياشتې په لومړۍ نېټه د١٤١٦ هجري قمري کال شيخ الحديث مولانا سلطان محمود د فانۍ دنيا څخه رحلت وکړ. (إنا لله و إنا إليه راجعون) مرحوم يو پرهيزګاره، پياوړى محدث او يو باعمله عالم ؤ. د مرحوم په مړينه د افغانستان د جماعة الدعوة الى القرآن السنة امير شيخ سميع الله «نجيبي»، د خيريه کميټې رئيس ولي الله «غلام» او د دعوت مجلې اداره د ژورخفګان څرګندونه کوي او د مرحوم مړينه يوه نه جبرانيدونکې ضايعه ګڼي ، له الله تعالى څخه ئې روح د عليّن اعلى مقامونه غواړو او پاتې کورنۍ ته ئې د ښايسته صبر تلقين کوو.

ستاسو لیك راورسید

دعوت مجله- پوست بکس نمبر٦١٤ جي پي او پشور پاکستان

د پیښور د جامعه دعوت الی القرآن والسنة د مدرسی ځخه محترم عبدالوحید«داعی» صاحب دعوت مجلی ته د یو لیك په ترڅ کی لیکی:

دعوت مجله یوازینی نشراتی ارګان دی چی خلك د شرك او بدعت له تیارو ځخه د یو سوچه توحید په لور رابولی.

نوموړی ورور په مجله کی د سلفی تحریك د کارکوونکو سره د مرکو ستاینه کړی او د سلفی تحریك د بادرکه ځوانانو سره ئی د لازیاتو مرکو غوښتنه کړی. داعي صاحب زیاتوي چي په دغه ډول نه زمونږ سلفي ورونه د خپلي نشرئي له لاري خپل نظریات په آزدانه ډول ګرانو لوستونکو ته وړاندي کړي.

د امام بخاری د پوهنتون ځخه محترم ورور امین الله «محسن» صاحب لیکی:

د دعوت مجله ډیر په زړه پوری مضامین نشروی، الله تعالی دی تاسو ته د لازیات کار او محنت توفیق درپه برخه کړی. نوموړی ورور د «دعوت» مجلی لپاره یو مضمون هم راستولی چی انشاءالله د کتنی نه وروسته به چاپ ته وسپارل شی.

د کونړ ولایت د دیوز له کلی ځخه زمونږ ګران لوستونکی عبدالجلیل«همدرد» ، عبدالرشید«محمدی» او محمدانور«خاکسار»صاحبان په خپل رالیږلی لیك کی د دعوت مجلی ټولو کارکوونکو ته د دعا او سلام نه وروسته د دعوت مجلی ډیره ستاینه کړی او په مجله کی ئی د شهیدشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله)د ویناګانو د چاپ غوښتنه هم کړی. همدارنګه نوموړو ورونو د دعوت په (٤٠) ګنه کی د شیخ رحمه الله په وینا کی د یوی غلطی ذکر هم کړی.

محترمو ورونو د مجلی د ستاینی مو ډیره ډیره مننه، زمونږ کوشش دا دی چی د دعوت په هره ګنه کی د شهید شیخ رحمه الله ویناو

ته ځای ورکړو او پدغه باب مونږ د خپلو لوستونکو څخه هم دا غوښتنه کړی چی د کوم وروړ سره چی د شیخ رحمه الله د وینا کوم داسی کیسټ چی هغه نشر شوی نه وی، مونږ ته دی راواستوی، مونږ به ئی د رالیږل شوی وروړ په نوم چاپ کړو.

د دعوت مجلی په (٤٠) گڼه کی د شیخ رحمه الله په بیان کی د غلطی په هکله مونږ په (٤١)گڼه کی معذرت غوښتلی دی هیله ده چی لوستی به مو وی.

ستاسو د لاهمکاری په هیله.!

د باجوړ د احیاءالعلوم له مدرسی څخه زمونږ گران لوستونکی هر یو جهان بهادر«قانت»،قاری عبدالله«خاکسار»او قاری سردارولی«عزام» صاحبان د دعوت مجلی په نوم جلاجلا لیکونه راستولی او د دعوت له مجلی سره ئی خپله مینه او خلوص څرگند کړی او له الله تعالی څخه ئی دمجلی د لاپریالیتوبونو دعاگانی کړی دی.محترم جهان بهادر (قانت)د دعوت مجلی په نوم یو شعر هم راستولی او په مجله کی ئی د چاپ غوښتنه کړی.

نو جهان بهادره وروره! دا چی ته د افغانستان په اوسنی حال او خصوصاً د افغانی مشرانو د ناکردو له لاسه د طورکمپ په توره تیاره کوته کی یکی تنها ژاړی نو د خپل رالیږل شوی شعر یوه برخه د خپل رالیږلی لیك او فریاد سره یواځی غوره شه:

زمونږ فریاد

تـرمی او بښـکی ئی پرمخ باندی بهیږی افغانانـو بـانـدی هـرځـای ظلـم کـیږی
نـه ئـی کـورشته،نـه ئی کـلی،مسافر دي یتیـمان او کونـدی هـرځـای کـی ژړیږي
لـه ډیر غـمـه ئـی په سترگو کی نم وځ شو اوس ئـی اوښکو پـه ځـای وینی راتوئیږي
لاس پـه نـام د هـر چـا درتـه نن ولاړ دی خـو د هرظـالم لـه خـوا نـه رټل کیـږی
ډیر بـی کسه پـه پـردی وطـن کی ژاړی د هـر چـا وربـانـدی زړونـه را یـخیږی
لویـه خدایه پـه هرځـای ئی تـه نـاصرشی دی بـی وزلو بـانـدی لـژتـه ورحـمیږی
هـرظـالـم نن دی تـوپك پـه اوږه كـړی د تـوپك لـه خـولی ئی سـور اور راتوئیږي
رب د پـــاره افـغـانـانـو مشـرانو ! یو سـوال کـومه کـه پـه در کی موقبلیږي
رحـم وکـړی مـونـږه بـاندی سره یو شئ «قانت» وگـوری تنها ځـانـله ژړیـږی

PROPERTY OF ACKU 6524

بسم الله الرحمن الرحيم

«قل هذه سبيلي ادعو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشركين»
سورة يوسف (۱۰۸)

بسم الله الرحمن الرحيم

الهی فرمان

قال الله تعالی

«إِنَّ الْمُنَافِقِيْنَ يُخَدِعُوْنَ اللهَ وَ هُوَ خَادِعُهُمْ وَ إِذَا قَامُوٓا إِلَى الصَّلاةِ قَامُوٓا كُسَالى يُرَاءُوْنَ النَّاسَ وَلاَ يَذْكُرُوْنَ اللهَ إِلاَّ قَلِيْلاً* مُذَبْذَبِيْنَ بَيْنَ ذلِكَ لاَ إِلى هَؤُلاءِ وَ لاَ هَؤُلاءِ . وَ مَنْ يُضْلِلِ اللّهُ فَلَنْ تَجِدْ لَهُ سَبِيلاً» (النساء-۱٤۱-۱٤۳).

ترجمه: بیشکه چی منافقان ټګی کوی (په اظهار او اخفاء دکفر) له الله سره او الله سزا ورکوونکی دی د دوی (د ټګی په سبب).

او هر کله چی پاڅیږی دغه (منافقان) لمانځه ته نو پاڅیږی سست کاهلان، ښییی دوی خلقو ته (ځان خپل چی مونږ هم مسلمانان یو) او نه یادوی دوی الله مګر (ریایی یادول) لږ.

په دی حال کی چی دوی متحیران مترددان دی په منځ د دغه (ایمان او کفر) نه (بیخي) په طرف د دغو (مؤمنانو دی په باطن کی) او نه بیخي په طرف د هغو (کفارو) دی (په ظاهر کی)، او هر څوك چی ګمراه (ئی) کړی الله نو له سره به نه مومی ته ده ته لاره (دحق).

ددعوت پیغام

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

قال الله تعالی:« شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنزِلَ فِيهِ الْقُرآنُ هُدىً لِّلنَاسِ وَ بَيِّنَت مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَنْ كَانَ مَرِيْضاً اَوْ عَلى سَفَرٍ فَعِدةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرْ» الاية ((البقره-۱۸۵)

د روژی مبارکه میاشت پداسی حال کی راځی چی زمونږ مسلمان امت د بی شمیره بدبختیو، مشکلاتو، مصیبتونو او دول دول کړاوونو سره مخ دی.

دا چی روژه د نورو دینی او دنیوی ګټو ترڅنګ د مسلمان د اخلاقی اړخ اصلاح هم کوی، په انسان کی د تقوی جذبه او الله ترسی پیدا کوی او یو مسلمان خپلو اسلامی او ایمانی وجائبو ته متوجه کوی، د کال په اوږدو کی د انسان ویده ضمیر رابیداره وی او په دغه ډول ورته د یو ناچاره ،فقیر او محتاج حال په عمل کی وربنائی.

نو پدغه اساس زمونږ مسئولیتونه او وجائب د پخوا په نسبت لا نور زیاتیږی.نو که د لویو مصائیبو او بدبختیو مخه نیول مو له وس او توانه نه وی پوره ، اقلاً پخپل چاپیریال کی خو باید د مسلمانانو د روانو حالاتو د ښه کولو لپاره یو مثبت قدم پورته کړو.

(ومن الله التوفیق)

* اسلام یو داسې دین دی چې په دې کې د هر دول سلامتیا، سعادت، اخوت، محبت او ددنیا او اَخرت د مصالحو او نیکمرغیو تضمین ورکړی شوی دی.

* په اسلام کې چې هر څومره نیکمرغي او خوشبختي دی، مونږ له دغو څخه هله برخوردار کیدی او په هر دول ستونزو هله کامیابیدی شو چې مکمل اسلام او منو.

(دشهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) له خطبانو څخه